May 5, 1958

2 Copy OCT 31 1958



بر له پسی گڼه (٤٥٦)

سلیمان (لایق)

کاروانونه

بې مطلبه بې مطلوبه هره خوا وهی گامونه
نه پوهیږم کوم پلوځی دا زمونږه کاروانونه
په دې ورانه قافله کښې نه مجنون شته نه لیلی شته
چا ته یو سوار مانونه چا ته وژاړو غمونه ؟
په دردو یواخته شوی نه طبیب شته نه دواشته
څه بیځایه گتید لی دا زموږ زاړه دردونه
نه پخپله له صحرا نه سمې لاری ته وتی شو
نه رهبرلرو چه مخکښی له مونږ واخلی قدمونه
کاشکې نه وای همرا شوی ددې ورکې قافلې زه
یا بد له وای دا زمکه او یا نور وای دا کلونه
ویښ به نشی دغه قوم که نغمه شی سر تر پایه
یا رباب غوندې گویا شی د «لایق» دزړه تارونه

اوښکې لکه خاورې چه ارزانی شوې
خدایه ! زمانې څومره نادانې شوې
پریږدیء چه سلگۍ مې حلقې ښکل کندی
ډېرې چه په ستونی کښې ستومانې شوې
او ښکې مې لېمو کښې بې اسرې چه شوې
کنډې کنډې راغلې پښېمانې شوې
راغی او چه موسك شو د پرسان سره
اوس د ځنگندن سلگۍ اسانې شوې
حسنه ! د غرور رانجه دې ورکړه خو
سترگې ئې اشنا وې مهربانې شوې
څومره ئې کاته ؤ دا سرو نه ډك
او ښکې مې به مخ ور ته روانې شوې
پوه شوم د سرو شونډو د سلا ځنې
نورې د شیخۍ مسألې گرانې شوې
گوره اشنا ! دوست دې مرور که خو
اوس نو دیارۍ خبرې ورانی شوې

« دوست »

د ۱۳۳۷ ش کال د ثور (۱۵) د ۱۳۷۷ ق کال د کوچنی اختر (۱۶) د ۱۹۵۸ع کال دمې (۵)

(۲۸ کال) (٤) گڼه

کابل

یانزده ورزنی روزانه

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

پښتو ټولنه

د امتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر : گل پاچا « الفت »

مسئول مدیر حبیب الله « تبزی »

پته : کابل ـ نادر پښتون واټ د پل خشتی د پله مقابل .

د تیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

په‌دې ګڼه ګڼې

مضمون	لیکونکی	مخ
زه او اوستونکی !	«نبزی»	۱
دادب ژوندی تیوری.	ښاغلی سعدالدین	۳
آیا فرد په‌جمعیت کښې خپله روحیه بایلی او که ئې ساتی ؟ که ئې ساتی څنګه او که یې بایلی ولی ؟	ښاغلی ح «ولس‌یار»	۱۰
غوندی وخندل .	ښاغلی «سیلاب»	۱٤
خپلې اورنه د ښاغلی نهرو یولیك.	دښاغلی «ترکی» ترجمه	۱٦
زوړ کنهګار .	ښاغلی «بینوا»	۱۹
زړه دې !	ښاغلی م ، ز	۳٤
کتاب .	ښاغلی «بختانی»	۳۵

زه او لوستونکی:

محترمو لوستونکو!

داده، د کابل مجلې د همدې گڼې د خپرېدلو سره سم د نوموړې مجلې د خپرولو کار چه پخواله دې څخه د ښاغلی محمد دین ژواك د پښتو ټولنې د یوه ډېر پخوانی غړی په غاړه ؤ، ما ته راسپارل شوی او ما هم دغه د روند کار د خپلو پښتنو ملګرو د مرستې په ډاډینه په ډېر زغرد سره منلې دی. دا مجله چه له ۲۸ کلونو نه را په دې خوا خپرېږی د پښتونخوا هغه درنه مجله ده چه ئې د خپلو خپرونو په واسطه د پښتو او پښتانه ولس د پاره د لمانځنی او ستاینې وړ خدمتونه کړی دی. مګر څرنګه چه ئې پخپلو پاڼو کښې هم په ډېر وضاحت سره لوستل کیږی نوموړې مجلې د خپل دغه خدمت د پاره کومه داسی ټاکلی لار نه ده غوره کړی چه هېڅکله پکښې څه انحراف نه وی راغلی او کوز وپاس پکښې ونه لیدل شی.

مثلا یو وخت ئې ژبې ته زیاته مخه شوی ده او بل وخت ولس ته.

یو مهال ئې سیاسی خوا درنه شوې ده او بل مهال ادبی. یوه ورځ ئې فلسفی مسائل څېړلی دی او بله ورځ تاریخی، یو وخت د آس پر ګام تللې ده او بل وخت د میږی، چه زه یې هره ښه او مرحله د هغه وخت د غوښتنو تابع یا مولود بولم اما د ازیاتوم چه د وخت د غوښتنی تر څنګه د شخصیت نقش هم د تل د پاره باید په نظر کښې وی. ځکه د وخت په تسریع او ځنډولو کښې د شخصیت اغیزه د مره زیاته ده چه د نړۍ تاریخ په هیڅ ځای او مهال کښې هم سترګې نه شی ترې پټولای، په تېره بیا په شرقی ملتونو کښې چه یې مدار یانو هم د ځانونو څخه بو میاګان (پیشوایان) جوړ کړی او په زرګونو بېوزلی انسانان بی د پسونو درمو په څېر په ځان پسی خو ځولی دی.

دلته د خلکو څخه په یوازې څو پستو خبرو د ټولنو خیر خواهان جوړ شوی او د انسان په جامو کې یی د شیطان لوبی کړی دی.

دلته دا بجد په لوستلو د علامه توب لقبونه هم ګټل شوی دی مګر دا چه څه وخت او څنګه؟ هغه بله موضوع او زمونږ له بحث څخه لرې ده. ځکه په دی څو کرښو کښې زما مطلب د مجلې د راتلونکو خپرونو په برخه کښې خبری دی، نه د تاریخ راسپړل او یا د علم الاجتماع د مباحثو څېړنه.

زما برغه د پورته خبرو څخه دا ؤ چه د کابل مجلې په چلولو کښې د زمانی او محیطی غوښتنو تر څنګه چه د مجلې د خپرونو د څرنګوالی لارټاکی د چلونکی شخصیت هم ډېر زیات مؤثر او په دی برخه کښې یو پوخ عامل دی. نو له دی امله خپل ځانته حق ورکوم چه د کابل مجلې د خپرونو د لاری د څرنګوالی د ټاکلو په برخه

کښې برسېره دوخت پرغوښتنه
خپله اراده هم دخپله وګڼم او
داووایم چه زه څه غواړم او
د کابل مجله به وروسته له دی
په کومه لاره روانه وی؟ ددغې
مجلې خپرونې به رورسته له دې
څنګه چه دغی علمی اکاډمۍ
دخپرونی دحیثیت سره ښایی
علمی، ادبی، اجتماعی، تاریخی
او تحقیقی وی. اما داچه په دغه
ډول مقالو کښی بیاهم یوه دبلی
څخه حق داولیت لری او که یه؟
طبعاً هو!

ځکه - لومړی - زما په نظر
هغه مقاله حق داولیت لری
چه دژبی او مضمون په لحاظ ترها
بلی څخه لوړه وی.

دوهم - فرضاً هغه مقاله چه
دعلم الاجتماع دآساساتو سره
سمه لیکل شوی او د مثال په
توګه پخپله دپښتنو په اجتماع
باندی راڅرخېدلی ده، هرومرو
ترهغی مقالی څخه حق داولیت
لری چه دهمدغو آساساتو
سره سمه لیکل شوی مګر یوه بله
جامعه ئی په نظر کښی نیولی ده.
یا ترهغی تحقیقی مقالی څخه
چه ئی نه مأخذ معلوم دی او نه
مدارك هرومرو هغه مقاله ښه
ګڼل کیږی چه ئی مدارك او
مأخذ په ډېر وضاحت سره ښودل
شوی دی یا په بله ژبه ترها بلی
څخه پخه او مستنده ده.

دغه ډول نور او نور..

دریم - کومه خبره چه ترهرڅه
نه زما په نظر کښی ضرور برېښی
هغه د کابل مجلی د سویی
لوړول دی مګر دا په دی معنی
نه چه دی زه هم په خلکو پسی
وګرځم نه په مضمون پسی، یا په
بله ژبه زه دی هم دهغه چا مقالو
ته حق داولیت ورکړم چه ئی
نوم داخبارونو پرمخ ډېر زیات
لیدل شوی دی او خلك یی لیکوال
ګڼی. اما دې ته هیڅکله هم نه
ګوری چه ددغه ښاغلی لیکنی
ټولی دڅو جملو تکرار دی او بس!
بله داچه نن په پښتنو کښی ډېر
داسی یوه ځوانان شته چه دلالونو
په څېر په ایرو کښی پټ دی او
دځینو خلکو دخو دخواهی
یا په ښکاره ډول سره جاه طلبی
هغوی ته دبرېښېدو موقع نه ده
ورکړې چه د کابل مجلې په
وظائفو کښی به یوه هم د دغو
پټو لالو نورا څرګندول او
برېښول وی ځکه نن پښتانه ځوانان
دهغی ورځی څخه وتلی دی
چه دیوی درنی مجلی چلوونکی
دی هرچا ته یوازی د لیکوال
دنامه په ګټلو (چه دا نوم به یی
هم محض داخبارونو دمخ په
تورولو او دمخکښی جملو په تکرار
ولو ګټلی وی) دخپلی مجلی
دمعیار دلوړولو په نامه مراجعه
وکړی او ورته دی غاړه پټه کړی.

څلورم - بله خبره زما په نظر
کښی د کابل مجلی تعمیم دی
په دی برخه کښی دټولو پښتو
خویندو وورونو څخه دمرستی
هیله او آرزو کوم

پنځم - بله خبره چه زما په نظر
کښی ده هغه داده چه دغه مجله
به وروسته له دې په یوه معیاری
پښتو خپرېږی او دنثر دښه کولو
کوښښ به کوی.

شپږم - څرنګه چه د کابل
مجله تراوسه پوری یوه ګڼه
وروسته پاته ده نو هیله ده چه
دا نیمګر تیا به هم دمطبعی د کار
ګرانو په مرسته ژرتر ژره پوره
او وروسته له دی به مجله پخپل
ټاکلی وخت محترمو مشترکینو
ته ورواستول شی په لمانځنه.

«تبزی»

دښاغلی سعدالدین څېړنه او لیکنه

د ادب ژوندی تیوری

په دې مضمون کښې زما مطلب د ادب د یو لړ تعریفونو څخه نه دی. ځکه یو خو په دې برخه کښې ډېری زیاتی خبرې شوې او بل داچه لیکل په عمومی ډول سره هر لوستونکی یو ادبی اثر که څه هم چه په غیر شعوری ډول سره وی دغیر ادبی آثارو څخه بېلولای شی په دې خبره په عمومی ډول سره هر لوستونکی پوهیږی چه د رحمان بابا دیوان یو ادبی اثر دی. کوچی ماما کرۍ ورځ داوښ تر شاهم ادبیات غږوی او سندرې وایی. امازه غواړم چه دغه مروجه ادب دخوځېدو او تکامل په حال کښې وڅېړم یعنی دا مقاله تعریفی نه بلکه ترسیمی او تشریحی خوا لری.

هره معینه ټولنه یو ځانه کلچر لری چه دهم هغې ټولنې داقتصادي، اجتماعی او طبیعی موقعیت مولودوی. د کلچر څخه مراد د یوې معینې ټولنې ټول افکار، کړنې، عقاید او دودونه دی؛ چه هغه ټولنه له یوې بلې معینې ټولنې څخه بېلوی. دا کلچر د یوې ټولنې څخه جلا نه لېدل کېږی بلکه دهغې سره لازم او ملزوم دی، او په هر فرد کښې ئې د کلچر مظاهر لېدل کېدلای شی کلچر دزمانې په تېریدو او د تجربو په زیاتېدو، ورو ورو پراخېږی دا تجربې په افکارو، کړنو او عقایدو اغیزه کوی. دهمدغو تجربو داغیزو له امله یوه بله څانګه راووځی چه هغې ته ادب وایه شی. دا څانګه داسې نه ده چه پس د کلچر دجوړېدو څخه مینځ ته راغلې وی بلکه د کلچر یوه برخه ده او دهغې سره ئې یو ځای تشکل کړی دی. کومې بېلونکی نښی چه یو ادب له بل ادب څخه بېلوی دهغې ټولنې د کلچر له خواصو څخه پیدا کېږی. دادب موضوع او مسائل د ټولنې دفعالیت او موقعیت څخه راووځی.

دادب ښه والی په دې کښې پروت دی چه تر کومه حده دیوه کلچر خواص ښکاره کولای شی. دغه ډول انتروپولوجی (انسان پېژندنه) هم هلته د تاریخ نه پخوا انسان ښه پېژندلای شی چه خپلې څېړنې دیوه کلچر په ادب بنا کړی. ادب نه لکه ځینی چه ګروه لری یوه وقایو هڅه او تلاش دی او نه یوه آله ده چه په اجتماعی ژوند کښې د خارجی هدفونو دپاره پکار اچولی شوی وی. بلکه د کلچر هغسې یوه پوره برخه ده چه د همدې کلچر دنورو عناصرو (عقاید، دودونه او نورو) سره د قوی مزو بواسطه تړلی شوی او په عین حال کې خپله بیله وظیفه لری او په ډېره مرغوبه اوزړه وړونکی توګه ژوند ته

خدمت کړی . دا یواځې ټولنه ده چه ادب په ډېره هم آهنګۍ فعالیت پکښې کوی او د خلکو د بدیهی فرضیو او مقدساتو سره پوره مطابقت لری .

د ادب او کلچر اړیکی (روابط) ډېر مغلق او سره نغښتی دی. ځکه ادب کوم خارجی پیوند نه دی چه په جامعې پورې دې ورتپل شوی وی بلکه پخپله کلچر د ټولنې یوه وروستۍ میوه ده چه ادب د هغې په خوندور کولو کښې اساسی برخه لری. دادب او ټولنې ارتباط دومره سره ټینګ او متداخل دی چه د ځینو منقدینو په عقیده ټولنه دادب د ډرام غولی (صحنه) دی نه دا چه دواړه دی سره بېل وی .

د اجتماعی اغیزو سیمه پر ادبیاتو ډېره ژوره او پراخه ده. ټولې اجتماعی قواوې مروجه اجتماعی تشکیلات، زړې او نوې اجتماعی مؤسسې، د پخوانۍ او اوسنۍ زمانې اغیزې او او احساسات، او روابط ئې د ورځنی ژوند سره، واړه پرادب باندې اغیزه کوی. یا په بله ژبه د اجتماعی قواو وقاموس کښې به داسې ډېر لږشیان وی چه ادب ئې له تاثیر څخه په څنګ پاتې شوی وی .

زمونږ دا فیصله ښائی ځینو لوستونکو ته د جبریونو نظریه وبریښی خو یه ! دا هغه مطلق میخانیکی جزمیت نه دی چه مونږ دې طبیعی او اجتماعی نړۍ ته لاس تړلی او بیوزلی وښیء . زه دا نه وایم چه هرڅه چه د ټولنې او طبیعت له خوا راشی نو ادیب دې په پټو سترګو د هغې په پله روان وی. شك نشته چه ادب د اجتماعی قواو تر تاثیر لاندې خپله لاره ټاکی خو همدا ادب هم پخپله د اجتماعی قواو وڅخه جلا کوم شی نه دی چه بیا به ئې کلچر د ځان پسی راکاږی بلکه پخو امو وویل چه ادب د کلچر یوه برخه ده او د خپل کل سره د تغییر او تکامل په لور هڅه کوی ټوله اجتماعی عملیه چه مواد، افکار، احساسات کرنې او اجتماعی مؤسسې واړه پکښې راځی - په ګډه سره دیو زمان د ادب خط السیر او څرنګوالی ټاکی. دا اجتماعی قوتونه په هره زمانه کښې د خپل تغییر سره، نوی سوالونه پیدا کوی او نوی مفکورې منځ ته راولی. داشی داسې توازن کلچر ته راور کوی چه د هم هغه عصر او د هم هغه کلچر خاصه وی. دا کلچر په داسی عناصرو کې پټېږی، او داسی جامه اغوندی چه له نورو سره نو پیر لری . باید دا خبره هم هېره نه کړو چه که چیری په دوو ټولنو کښې عین کلچر ولیدل شی (چه نادر دی) نو ضرور به دواړه ټولنی په یوه شانته اجتماعی موقعیت کښې واقع وی.

اجتماعی تغییر ځینی کیفیتونه مینځ ته راولی او ځینی له مینځه باسی، ځینی اخلاقی قیمتونه زیاتوی او ځینی رټ بېرته کوی. ځکه چه ټولنه تل د تغییر په حال کښې ده او هېڅ سکون نه شی زغملی . نو له دې امله تل یوه انتخابی عملیه په ټولنه کښې روانه ده. یعنی ټولنه ځینی عادات آخلی او ځینی له لاسه ور کوی.

هرهغه شي چه دټولنې د تغيير سره موازي تغيير کولی شي هغه دټولنې سره پاتې شي او هغه شيان چه دټولنې دتغيير سره سم او مترادف تغيير نه کوي او يا هماغه لارنه تعقيبوي نو ټولنه ئې ضرور محوه کوي او لاس ترې اخلي . له دې سره څنګ په څنګ په ادب کښې هم يوه انتخابي رويه روانه ده چه دليکونکي په واسطه کيږي.

ليکونکي هغه مواد چه دي ترې متأثر کيږي غوره کوي ، او له هغو څخه داسې يو ټوکي (کالي) اوبې چه دده دسويې او هغه نظر سره چه ئې واقعي نړۍ نه لري مطابقت وکړي. د پورتنيو کرښو څخه دا نتيجه لاس ته راځي چه اجتماعي تغيير او انتخابي عمليه مونږ ته دهغو اړيکو سره يو بل کې ننوتل او مرکبوالي راښيي چه ادب ئې دور ځني ژوند سره لري. هر اجتماعي تغيير په ادب کښې تجلي کوي. خو دا اغيزه دومره ساده نه وي چه سړي په آساني سره د تغيير يو اځني او مشخص عامل پکښې ومومي . دادب تغيير يو اځي په اقتصادي بنسټ يا اجتماعي او يا ايديا لوژيکي اساس نه دي بنا بلکه ډېرواړه اولوي عوامل دي چه په ادب اغيزه کوي. خو شك نشته چه داپاسني عوامل تر ډېرو ستر او قوي دي . دومره چه دا عوامل نه يو اځي پر ادب بلکه د کلچر پر خط السير باندې هم بې شانه اغيزه لري دټولنې ساختمان کوم ساده ساختمان نه دي نو له دې امله پوهانو رښتيا ويلي دي چه: ټولنه خپلو افرادو ته نه ده ورته. ځکه کله چه افراد يو ځای شي چه يوه ټولنه جوړه کړي نو د دې ټولنې خواص د فرد فرد دخواصو څخه بيخي توپير لري ، لکه څنګه چه اوزون د آکسيجن له درو اتومو څخه جوړ شوي خو اکسيجن ته نه دي ورته .

جامعه د تيرو مؤسساتو ، دمؤسساتو دتعامل او تکامل ، دعمومي احساساتو ، دغايوي او دستوري فعاليتونو او نورو بې شمارو عواملو تر تاثير لاندې يون کوي. خو سره له دې هم دادب او اجتماعي تغيير و نو تر منځ رابطه تر ډېرو نورو اجتماعي حوادثو روښانه ده دمثال په ډول د خوشحال سوانح که ولولو نو به پوه شو چه کومو اجتماعي عواملو دده اشعارو ته انقلابي رنګ ورکړ. يا بلخې مولينا ولي دتصوفي ادب سره سرو کارلارن ؟ دمولينا دسوانح او تربيې په پوهېدو سړي پوهېږي چه دي دومره په تصوفي محيط او تربيې اخته وو چه ئې ادب هم پکښې رنګ شو. منګر دا وضاحت پر ته له ادب څخه په زياترو نورو څانګو کښې نه لېدل کېږي. ددې دپاره چه دبو دا دعقيدې رښې پيدا کړو . لازمه ده چه دهند دپخوانيو اجتماعي مؤسسو په برخه کښې پوره معلومات ولرو چه دا کار څه آسانه هم نه دي. په دې توګه ښکاره ده چه دادب او اجتماعي قواو ارتباط لږ و ډېرو څېړنو څرګندېږي.

دادبياتو اساسي دند. دبشري احساساتو ښکاره کول دي. مقصد له ښکاره کولو څخه هم دلته يو تت احساس ، يو پټ هيجان يوه نامراده آرزو. چه دهغه وخت خاصه وي ميدان ته

را ایستل او په داسی څلورلاری کښې ئې اېښودل دی چه خلك ئې ووینی، دې الهامی عملیې ته اجتماعی قوتونه یو اځی دتګ پلو ورښی .

ادبی منقد انو په ګډه سره دامنلې ده چه ادبیات سیاسی سرحدنه پېژنی. ادب دټول بشر دزړونو مشترکه ژبه ده. دټولو کلچرونو ادبی اساس او موضوع یو ګڼی. پیدایښت، مرګ، مینه، نفرت، فردی دښمنی، اجتماعی، تجربې، بری او ماتی، دا ټول د بشر ژوند په بیولو ژیکی اساس سره تړی او ددوی روحیاتی سره ورته والی دلومړنیو اړتیاوو مشا. بهت یو تربله سره نژدې کوی. ډېر داسې کېږی چه دیوه ناآشنا ملك دیوه لیکونکی آثار به مونږ خوښ کړی وی، حال داچه دهغه ملك اجتماعی او سیاسی سیستم او اخلاقی قیمتونه به مونږ ته ډېر ناوړه ښکاری . داځکه چه هنری اړتیاوې، چه ادب د هغې دلرې کولو یوه آله ده، په عمومی صورت هری ټولنې کښې شته. هر چیر ته لیکونکی د ټولنې دتجربو څخه مواد غوره کوی او دخپلور قیقو احساساتو او شخصیت په اوبو ئی مینځی او بېرته ئې ټولنې ته ور کوی . بې خونده پېښی په ژوندی اوښایسته بڼه څرګندوی. دادبی عملیې دپاره ټولنه دو یالې حیثیت لری او اوبه ئې بخپله بشری ژوند دی چه د زمانې سره سم بهېږی .

تراوسه چه هره ټولنه لېدل شوې په هغې کې ادب هم شته یعنی داخبره صحیح نه ده چه ادب دې داقتصادی یا نورو عواملو مولودوی . ادب هم لکه د یوې ټولنې حقوقی، مذهبی او اقتصادی سیستم یو سیستم دی. تر کوم ځایه چه تاریخی شواهد پوهانو ته موادور کوی دانسان ژوند اجتماعی ژوند دی ځکه هېڅ داسې ثبوت نشته چه انسان دې دتاریخ په کومې مرحلې کښې انفرادی ژوند تېر کړی وی. دباستان شناسۍ له حفریاتو څخه ښکاری چه هنر دیرش زره کاله پخواهم وو. خلکو به په ښمڅو کې څېرې ایستلی چه نښې ئې پاتی دی حال داچه دلیك تاریخ تر لسوزور کلو راښکته دی . ادب دلیك په حیث ډېر ور وسته ظهور وکړ یعنی پخوا تر دی چه لیك ایجادشی مونږ کوم ادبی اثر نه لرو . خوددی دامعنا نه ده چه لیك دې نه ؤ نو ادب دې هم نه وو. دپښتنو لنډۍ اوسندرې ښایی ترڅو کاله پخواچانه وی لیکلی خوموجودیت ئې حتمی ؤ . نو که ځینې اقتصادیون وائی چه ټولې اجتماعی موسسې په اقتصادی مؤسسو او اجتماعی تغییرونه په اقتصادی تغییرونو بنا دی دامعنانه لری چه ګوندې اجتماعی عملیې (په تېره ادب) دې له اقتصاده راوتلی وی . بلکه دادب او هنر عملیه هماغو مره قدامت لری لکه اقتصادی خوائی چه لری . البته یو اځې دومره ویلی شو چه اجتماعی او اقتصادی قواوې دادب خط السیر تعینوی. ابتدائی انسان هنر له ورځنی ژوند څخه جلانه باله او نه ئی دیوه ښکلی کالی په حیث ګاڼه بلکه په لاشعوری ډول پری اخته وو. اقتصادهم

په دې وروستیو پیړیو کې علمي رنګ پیدا کړ که نه وي نو ډیر پخوا هم انسانانو ورسره سروکار لاره. دلته یو عمیق بحث پروت دی چه زه یې کوم بل وخت ته پریږدم ځکه دا یو اځې ادب ته نه بلکه ټول هنر ته راجع کیږي. اوس به راشو خپلې پخوانۍ خبرې ته چه مووو پل: ادبي عملیه د ژوندانه سره سمه روانه ده او اجتماعي عوامل یو اځې هغې ته په یوه معین لوري استقامت ورکوي. دادب په استقامت ورکولو کښې دلیکونکي رول باید هیر نه کړو. لیکونکي د ترکیب تخیل او تنظیم په برخه کښې اراده لري او هر عنصر چه ئې خوښ وي غوره کوي یې. د مواد و څخه چه د تجربې په واسطه اخستل شوي وي هر شکل چه دي پرې قدرت ولري جوړوي. هر شي چه د ده خوښ شو او په ده ئې اغیزه وکړه هماغه شي د ده ادبي مواد جوړ وي.

لوستونکي په کوم اساس له یوه ادبي اثره خوند آخلي؟ د تولستوي په عقیده یوه ادبي اثر ته دلوستونکي استجابه د یوه اجتماعي اعتیاد محصول دي، چه په یوه معین محیط کې له پخواني وخت څخه موجود وي او دغه محیط هم د ټولنې له خوا تعدیلیږي. د اجتماعي اعتیاد یوه ښه نمونه د پښتنو د اتڼ په نغمې او ډول کښې لیدلی شي. کوم وخت چه پښتانه د اتڼ ډول واوري نو ئې ځان وریږدي او ور روان شي. که کوم سړي دغه رنګ ډول او نغمه او یا همدا رنګه او په همدې روح یو غږ د دوی غوږ ته ورسوي نو اوریه ونکي هغې ته استجابه کوي. ټولنه ده چه لیکونکي او لوستونکي دواړو ته لارښونه کوي. ټولنه دلیکونکي احساسات تعدیلوي او د خلکو د ادبي اړتیا و په سویه ئې راولي. پخوا تر دي چه یو اثر ادبي اثر وبا له شي محبور دي چه اجتماعي ساحه تیره کړي او له هم هغې لارې د ادب په لست کښې ور داخل شي. نو مونږ ګورو چه ادب د یوې اجتماعي موسسې په څیر د افکارو تخنیک او عمل یوه موسسه ده چه د خپلې ودې او تکامل د پاره ځانله قانون لري د اموسسه تل د هغو نورو موسسو تغییرونو ته (چه د دې سره او بدل شوي دي) استجابه او عکس العمل ښکاروي ادب خپل فعالیت د کلماتو په واسطه کوي او د احساساتو او تخیل په تله د ټولنې افعال او د ژوندانه طرز تلي.

د ادبیاتو اساسي مواد تجربه ده. خو هغه ټول شیان چه کلچر تري متاثر کیږي پر ادب اغیزه نه کوي بلکه د یوه کلچر ډیرې لږې تجربې په ادب کښې انعکاس مومي.

د غزنوي محمود د عصر په ادب کښې زیاتره د پاچایانو او حاکمانو تجربې او د شاعرانو صلې منعکسې شوي دي. د پاچا د ښکار، د جنګ د فتحې او د غلیم د ماتې تجربې. د آتن د طلائي عصر په ادب کښې یو اځې د آزادو نارینه وو تجربې څرګندي دي، نه د مهاجرینو ښځو او غلامانو. همداسې د روم د امپراتورۍ په ادب کښې د آسوده او اصیلو ډلو تجربې پرتې دي. نه د غلامانو او مزدورانو، د اروپا د منځنۍ

پېړيو په ادب کښې داشرافو د معاشقو، پهلوانيو او جګړو تجربې ښکاري. او دچين پخوانی ادب کښې يواځې د رسميونو تجربې ګورو نه د بزګرانو.

د تجربو د محدوديت عوامل کله لوړی طبقې وی او کله مذهب. د اسلام د راتګ سره سم په اعرابو کښې خمريه اشعار منع شول او شعر يواځې په دينی چارو لکه حمد، نعت او نور بوخت شو. چه دې وضعې تر امويانو پورې دوام لاره.

په غربی نړۍ کښې د ملوك الطوايفی د ماتی سره سم د ادبياتو محدوديتونه پسې لږ بدل او په دې توګه نوې ډلې د ادبياتو ډګرته راووتې. دې ډلو لومړی د لوستونکو په حيث او وروسته د ليکونکو په څېر سر را او چت کړ.

په يوروپ کې د صنعتی انقلاب څخه وروسته منځنۍ ډلې د ادب سره تماس ونيو.

دا تماس په هغو هيوادو کښې ژرو لېدل شو چه د فيوډاليزم د دورې څخه کپيټاليزم ته را روان وو.

وروسته چه د سرمايه دارۍ پر ضد انقلابونو او شوشونو پيل وکړ نو ګورو چه د عادی خلکو يعنی مزدور، بزګر او خوارانو د ادب دوره راځی. ددی ادب دوره په انګلستان کښې د کارګر و ادب، په فرانسه کښې جارج سنيد او په روسيه کښې ګورکی دی. ګورکی د سزاری روسيې د ادبياتو زوال اعلان کړ او د کارګر و ادب ئی جاری کړ.

دا نوی او قوی تغييرونه چه لکه د سيند څپې يو په بل پسې ټولنو ته راغلل د نوو او بکرو تجربو چينې ئی په اجتماعی مؤسسو او ورسره په ادب کښې پرانستلی چه دار از تجربې د مختلفو ټولګيو د ګټو نمايندګی کوی.

د ښځو ګډون په ادبياتو کښې يو نوی فصل شميرل کېږی تر يوه وخته پورې د ادب آس يواځې نارينه وو د ځغلاو. حتی په يورپ کښې هم وضعه په همدې ډول وه او ډېر وروسته ښځو ته د ليکلو حق ورکړ شو که څوك د اميلی د کنسن او جين استين آثارو او لی د اروپائی ښځو ټيټ موقعيت به ورڅرګند شی.

د دغو طبقاتی او جنسی تجربو د زياتېدو په وجه د فکری او ورسره د ادبی ځغلا ډګر هم پراخ شو. د يوه کلچر د نورو سره راشه درشه، په اخلاقی ثابتو پخوانيو قوانينو باندی نوی نظر کول او نور داسی عوامل مينځ ته راغلل چه د کلچر د تجربی سيمه ئی ژوره او پراخه کړه او د ليکونکی فردی شعور ته ئی نوی ورو پرانست.

د مثال په ډول د رنسانس د دورې اغيزه پر غربی ادبياتو

دا سي څر ګنده ده لکه لمر.
جغرافیائی او علمي اکتشافاتو
دالیزابتی ددورې پرادب واضحه
اغیزه وکړه. د نونسمی پېړۍ
په آخر کښې دلری شرق دمستعمرو
زیاتېدو د فرانسی پرادب خپل
چاپ ولګاوو. د شلمې پېړۍ
په پیل کښې دغربی بور ژوازی
دثابتو اخلاقی اساساتو ماتیدلو
د ټولې غربی نړۍ پرادب او
د فروید سایکوانالیز (روحی
تحلیل) په اوسنی ټاول خورا
ډېر تاثیرو کړ اوس نو ګورو
چه اجتماعی اثرونه او تجربی
ادب لکه لاټو پخپل مرام
ورڅرخوی مګر دیوه شی تکرار
لازم دی چه اجتماعی قوې څه
ثابت شی نه دی چه ټول ادبی
تغییرات د دوی ګرد چاپیر
وچورلی بلکه دا اجتماعی مؤسسې
او عوامل پخپله یو تر بله دتاریخ
په عملیی کښې دعلت او معلول په
لایتنهاهی زنځیر تړلی دی.
ادیب دا تغییریدونکې تجربی
څه کوی؟ ادیب دا تجربی
د ژبی په جامه پټوی او بیائی
د تخیل په رنګ رنګینوی او
ټولنې ته ئې دیوه ګلالی او بګر
شی په توګه ورسپاری.

نوټ:

ددې مضمون په ترتیب کښې
له لاندی مأخذ وڅخه اخستنې
شوی دی.

۱) د اجتماعی علومو
انسایکلوپیډیا.

۲) انسایکلوپیډیا امریکانا.

۳) انسایکلوپیډیا بریټانیکا.

٤) دچرنوفسکی هنری مقالې.

٥) TO HELL WITH CULTURE.

٦) ARTS AND THEIR INTER-YEIATIONS.

آیا فرد په جمعیت کښې خپله روحیه بایلی او که ئی ساتی؟

که ئې ساتی څنګه؟ او که ئې بایلی ولې؟

څه مو ده دمخه کله چه د میوند دواټ دڅای له څنګه تېر ېدم، کتل مې چه څو تنه ملګری یا د خلکو خبره « کا که ګان » غونډ سره ناست وو، او غونډه ئې وه.

خبرې او حرکات یې ډېر په زړه پورې او د کتلو وو. د ټولنې څخه ئې لږ څه اړې ورته و درېدم. مګر ددې دپاره چه د بغل اغزی نشم ورته، مخ مې بلې خواته واړاؤ. غوږ ونه مې ځور کړو، ورته او په غلا غلا به مې دستر ګواه ګو ټونو څخه ورو کتل.

څه شیبه نه وه تېره چه یو له دغو ملګرونه او چت و درېد. ورو سته له دی چه ئې خپلې جامې کلکی کلکې و څنډلې په لوړ غږ یې وویل: « برو آغا مرګ با یار ان عیداست! »

بل له دغو ملګرو څخه چه یې د تور پاچ پټکی پر سر او هراتی پټو په اوږو، ؤ، غبرګ ورسره ودر ېدو د پټو پټو ته یې پورته کړو. بر پټو نه یې یو خوا بل خوا سره تاو او په هسکه غاړه یې غږ کړو: « بلی! آغا عید است! »

دا یې وویل او واړه سره وخرځېدل.

دوی ولاړل مګر د جمله یې چه « مرګ با یاران عیداست. »

زما په حافظه کښې پاتې شوه. ذهن مې ئی په شدت سره ګیر کړ، څرنګه چه یوازې وم جملې ته ښه ځیر او د ځینو ملګرو په اصطلاح په فیلسوفانه فکر کښې تر ستونی ډوب شوم.

جلمه دعامیانه معلومات او حیاتی تجار بو یوه ډېره قوی برخه راته وبرېښېده، نو ځکه په عادی ډول نه شوم ترې تېر. بلکه څرنګه چه وایی خبره له خبرې ولاړ یږی دغه ډول ماته هم دې خبرې « مرګ با یار ان عید است! » ډېرې تېرې څه چه نږدې هېرې خبرې را په زړه کړې.

لکه دا چه « چورونګی کا کا » به دوړ کتوب په وخت کښې تل راته ویل: « الکو یو ځای مه ګرځی څې شیتانی کوی ء! »

و الله رښتیا یې وې. ځکه کله به چه زه او « تور » سره یو ځای شر؛ بیا به موچا دلا سه ورځ نه لر له. جنګ به مو په پیسو غوښت آسمان ته به مو ډېرې غورځولې، او د « پیتی » مستې به تو کری لاندې هم نه رانه پاتې کېدې. ورځ نه وه چه به یو سرماتی یا لاس ماتی هلک زموږ وره ته نه ؤ ولاړ. هیڅ کونډه نه وه چه به یې زیار تونه ته را پسې ننګول. نغری به یې نه را پسې ړنګول. او ګریوا تو نه به یې نه را پسې څیر ول.

باغونه او پالېنرونه
چانه شوورانه سانلای.

«چورونگی کاکا» چه تل
دیوازې توب توصیه راته کوله
دده ژوندهم په پالیزوانۍ او
باغوانۍ کې تېر شوی ؤ. ده
دخپل باغ او پالېزه غم خوړ
چه به یې ویل: «الکو یو ځای
مه گرځیء څې شیتانی کوی ء!»
ځکه کوم مهال به چه یوازې
وو، دنیا به گل او گلزار وه.
زه به پر خپل ځای ناست وم
او «تور» پر خپل ځای. اما
څنگه چه به سره یو ځای شوو،
بیا به نه زه هغه بې آزاره مرغه
وم چه به گل هم نه را څخه
ازارېدو، او نه به «تور» هغه
دنېکې غوا خوسی ؤ چه ما شوم
هم نه تری بېرېدو.

بیا به مودا دې کنځلې او
خبرې دهېره شوې. دا باڅپېړې
به مو په خیال کې هم نه گرځېدی.
لاس به مو سره یو کړ. پالېزه یا
باغ ته به ور وغورځېدو. یو به
په شکولو بخت شو او بل په تولولو.
ترنگ پاو به مو لمنې ډکی کړې
او د پالېزه یا باغ څخه به وو تو.

«چورونگی کاکا» به که
ولید و هم څه یوچ مونه پرې
ختل. ځکه څو به چه ده ځان
خو ځاؤ موږ به خپلې مسخرې
پرې کړې او بې شماره نادودې
به مو هم ترسره ورځار کړې وې.

اما د یوازې توب په وخت
کې دا ډول نه وو بلکه هلته
دخپل سیوری نه هم بېرېدلو.
چه دې شراب را کړی او دزمری
زړه دی پر زړه را ایښی وای
پالېزه ته به به وای ورغوز
ځېدلی، هلک به مونه وای وهلای.
کونډه به مونه وی ځورولی او د
«پیتۍ» مستې به مونه وای
خوړلې.

په یوازی توب کې به مود
همځولو په لید و ساه کوچ
را به وکړ. زړه به موله تلې و
خوت. په منډو به شوو، اوو به
تښتېدو. داسې تېښته چه دموږك
غار به مو په څه باندی شل روپۍ
کرا کاؤ او پټېدو به پکښی.
آیا دا والی؟

زه خو وایم ددې کار علت
دورا په ښکاره یعنی

دفرد او جمعیت د روحیې
تو پیر دی ځکه دا چه ښاغلی
«کاکه» وایی: «مرگ با
یاران عید است.» یا دا چه زه
وایم په گډه موجنگ په پیسو
غوښته او یوازې درگ سبب یې
دفرد د روحیې تو پیر دی
د جمعیت څخه.

یعنې کله چه به زه یوازې وم
روحیه مې یوه روحیه وه او
کله چه به د «تور» سره وم
روحیه مې بله روحیه. دغه ډول
«تور» هم د یوازې توب په وخت
کښې یو «تور» او د یو ځای
والی په وخت کښې بل تور نه ؤ.
بلکه هم هغه تور ؤ چه ما او تول
کلی پېژاندو. مگر روحیه به یې
په دې دوو حالاتو کې دومره
سره بېله وه چه به یوازې توب
کښې د تېښتی زمری ؤ او په
یو ځای توب کښې د جنگ.
همدا شان کاکه هم چه مرگ
با یاران عید بولی ځان په تولنه
کښې وینی. یا دده خبره مرگ
هغه مهال اختر دی چه ملگرو سره
وی او روحیه هم د جمعیت روحیه وی
نه دا چه د یوازی توب په وخت

کښې چه روحیه دیو ازی توب او فردیت روحیه وی. ځکه ډېر کاکه گان به وی چه دمرگ نه هسې بېرېږی لکه دخلکو خبره پېرې دبسم الله نه. مگر کله چه ملگرو سره وی. هلته بیا رښتیا هم مرگ اختر بولی او چرت نه پرې وهی.

ماته تراوسه لاد کوچنیتوب هغه ورځې را په زړه وی چه به مې خپله وظیفه دلوبو دپاره پرېښوده او دملگرو سره به گډ شوم.

ولاړم به او د «پیرو» په ځیر په د «ادې» کفن هم هېرشو را نه کاربه په کارپسی ولاړ او په نهال کښې به مې نور نه تېرېدو، مگر تر هغه وخته چه دملگرو سره وم. ځکه څنگه چه به لوبې تمامې شوې ملگری به بیل شو و سره او مخ په کاله به وخو ځېدم اندېښنو به وپېچلم او دوېرې به کورته نه شرم ننو تلای.

دلته به ټول هغه کارونه را په زړه شوو چه به مې دلوبو دپاره تر شا کړی وو.

دادې کنځلې او دا با خپېړی به دبلاوو په ځېر مخې ته را ته ودرېدې. زړه به مې ولوېد واو تر تیاره ماښامه به دوره شا ته غلی غلی گرځېدم.

آیا دلته هم پرته له دې څخه چه زما دروحیې توپیر دفرد او اجتماعی دروحیې دتوپیر په آساس سره بېل کړو، بله کومه لاره موجوده ده؟ زه خووایم چه به! ځکه په اجتماع کښې ظاهراً زه هغه څوک وم چه په یوازی توب کښې وم. مگر روحیه مې هغه روحیه وه چه اجتماع را کړې وه.

دلته به ښایی ځینو ملگرو ته دافکر پیدا شی چه گوندې زه غواړم د کاکه او یا «چورونگی کاکا» د ساده خبرو څخه فلسفه جوړه کړم. اما یه! داسې نه ده ځکه څو شپې دمخه ما دفلسفی په یوه کتاب کښې عین همدغه موضوع، اوسته او د کاکه خبر یې بیا را په زړه کړه.

دده دا خبره چه: «مرگ با یاران عید است.» کټ مټ هغه خبره ده چه فیلسوف کړی ده او ویلی یې دی! فرد په اجتماع کښې منحل دی. که رښتیا ووایم دپور ته عبارت دلوستلو سره سم ماته دخپل کلی دسپین ږیرو ځینې خبرې را په زړه او دومره قوی ښکاره شوی چه یې قیمت را ته سل هومره شو.

دوی به تل دخپل ځان دغټولو او پرسولو دپاره ویل: «سپین ږیری خبره د کاڼی کرښه ده!» یا ره رښتیا چه د کاڼې کرښه ده. که نه وی نو ما به د «چورونگی کاکا» دخبرې مطلب چه یې دخپل پالېزه یا باغ دساتلو دپاره کوله وزوسته له شپاړس کاله مطالعی څخه دفلاسفه وو په کتابونو کښې نه موندله.

البته دا چه پورته خبره «کاکه» دځینې مقلدینو او عتیقه پرستانو په څیر په نقلی او فیلسوفانو په عقلی ډول سره کوله، هغه بله موضوع او رښتیا ده ځکه چه فیلسوفان (که پلید نه وی) خپلې خبری د علت او معلول او دپېښو «حوادث» تر مینځه داړیکو دپیدا کولو او سره نښلولو په اساس کوی، مگر ښاغلی کاکه د تقلید په ډول. «چورونگی کاکا» په دې

برخه کښې هیڅکله هم د علت او معلول په آساس فکر له کاؤ موږ ولې دیوځای کړځید وبه وخت کښې شیطانی کوله، مګر فیلسوب یې دځرنګوالی په برخه کښې تجربې مثالونه راوړي او دولی؟ ځواب ورکوی.

دی وایی! کله که موږ دځینې شرائطو دمراعات په شرط دوه ګازونه، مثلا آکسیجن او هایدروجن سره یوځای کړو وروسته د یوځای کېدو او تعامل څخه نه بیا آکسیجن هغه خاصیت لرې چه یې د بوازې توب په وخت کښې لاره، او نه هایدروجن بلکه د یوځای کېدو سره هم داسې خاصیت پیدا کوی چه بیا دغاز اتر ترعنوان لاندې هم نه راځی یعنی آکسیجن کټ مټ په هغه کمیت دی چه د بوازې توب په وخت کښې ؤ، مګر کیفیت یې دومره بدل دی چه مایع باله شی نه غاز اوس نود پوړته مثال د مخې په زړه ده سره داحکم کولای شو چه فرد ته د جمعیت په وخت کې خپله روحیه هیڅ نه ورپاتې کیږی، بلکه هغه رټ په بله روحیه او اجتماع کې منحل دی. آیا په مظاهرو کې چه په زرګونو ځوانان خپلې وینې پېکښې توبوی او هدوره یې دتانکونو تر «ارابو» او د آسونو تر پښولاندې میده میده کیږی، مګر بیا هم د خپلو حقونارو څخه مخ نه اړوی، داخبره پوره صدق نه کوی؟

زه خووایم چه دپورته خبرو دیر ښه مصداق په اجتماع کې همدغه ځای دی. ځکه په دغو مظاهره کونکو کې به د یرداسې خلك وی چه بوازې توب کې بشپړ ته «بشت!» نشی ویلای مګر هلته د دیرو ستړو او مستبدو امپراورانو په مقابل کې ناری وهی: «مردې ی ی!!»

دا زما یقین دی چه دغه مظاهرو ځینې غړی به د فردیت په صورت دخپلې بوزی وینې کولو ته هم نه وو حاضر، مګر په جمعیت کې خانونه وژنې او قربانی ورکوی.

د دغو دلو دیرزیات غړی به ښه یې چه دیوازې توت په وخت کې دپیاده تللو او پر مخ باندې دساړه باد دلګیدلو طاقت هم نه لری. مګر د مظاهری په وخت کې د دیر میړه جګړن په ځیر کړی ورځ منډې وهی او خپله سینه د ګولیو او برچو مخې ته دال کړځوی.

آیا داچه دنړی دیرستر کسان دا عبارت خپل شعار کړځوی چه: «بووالی مود بریالی توت ضامن دی!» علت یې داجتماع دروحیې قوت دی او که کوم بل څه؟

آیا داچه وایی! «قوت زموږ تشکیل زموږ دی!» مطلب یې پرته له اتکا څخه دملګرو دیو ځای والی په روحیه باندې بل څه کیدلای؟

زه خووایم چه! «یه» ځکه ترڅو پوری چه د افرادو تر مینځ یو ځای والی نه دی راغلی تر هغو پوری دقوی روحیې امید! «محال او جنون دی.» اما په دې برخه کې دځینې شرائطو مراعات هم، د آکسیجن او هایدروجن درست تعامل په دود ضرور دی، ځکه ماته د «چورونکی کاکا» هغه خبره چه به یې تل دخپل باغ دساتلو دپاره ویل! «الکو یو ځای مه کړځی څې شیتانی کړی!» تراوسه لارا په زړه او دهغه خدای ښېلی ملك الموت ته ورته ځیره می ستر ګو ته نیغه ولاړه ده.

ښاغلی سېلاب سابی ،

غوټۍ وخندل

سهار چه سپېدی وچاودی
او دسبا ستوری کاروان ته
دلېږی دسترګک وواهه اوهر
موجود خپله ستومانی و وېسته
نودنوی ژوند اودبهار دقافلې
استاځی نسیم دډېر ناز اونخرې
سره په یوه مخصوص انداز کښې
په ټوپونو ټوپونو دهغه ګلزار
په وره راننوتو کوم چه دبې
رحمه ، ستمګار او بې درده
خزان له لاسه سپېره میدان ،
شړه میره اووچ ډاګ ګرزېدلی
ؤ دهرلوی او واړه ، دردېدلی
کړېدلی بوټی سلام ئې ګوښی
ګوښی اداکړ . بیا ئې دډېر
وخت له پاره تنګۍ او ګلالۍ
غوټۍ دلطف او شفقت په غېږ
کښې ټینګه کړه او په ورو
ورو ئې ورته د مینې اومحبت
په کومیډی پرده کښې خپلې
پستې شونډې دهغې په سرو
یاقوتی شونډو باندې کېښو
دې اودا له رنګا رنګ کیفونو

او خوندونو څخه ترکیب
شوی معجون ئې وڅاکه .
دلته نومینه اووینه توده
شوه حواس حرکات او سکنات
وخوځېدل حال او قال کښې
بدلون راغی ، په بدن کښې
ساه وچلېده . حواس حساس
شول ، خیالونو نوې دائره
تشکیل کړه له حیانه ډکې
غوټۍ دنسیم معطره غېږ کښې
په کټ کټ وخندل او دنسیم
دغه یواځنۍ آرزو ئې ژر تر
ژره تر سره کړه دلمر څرک
سره بورا دطواف احرام وتاړه
بلبلانو دګلانو په څانګو اولښتو
زړه وړونکې نغمی او خوږې
زمزمې شروع کړې . آرزو ګانو
سلسلې جوړې کړې او امیدونو
خړانګې وکړې . دویر اوماتم
ډرامه ختمه شوه دهر داو تکلیف
تغر ټول شو او دخوښۍ او
خوشحالۍ کړکۍ وپرانستله
شوه دمستۍ او هستۍ فلم

چالان شو . د حسن او سینګار
ملکی دخپل خیالی اشنا دپاره
دزلفو ټالونه واچول .
آرزو ګانو غوټۍ وسپړلی
دامید نیا لګې وده وکړه
رنګ نوی ، خوند ، نوی او باب
هم نوی شو حتی زاړه ساقی تقاعد
وکړ د نوې پیمانې ساقی هم
نوی شو او نوی ژوند ، نوی خوند
وموندلو شاعر هم په لوړ اوازوویل
دړې وړې زوړ رباب دی *
زوړ مطرب خانه خراب دی *
زوړ آهنګ د روح غذاب دی *
نوی ساز نوی آواز دی هم
شو نوی د نغمی رنګ *
غلی شانته انقلاب دی بد لوی
د زمانې رنګ *
دغوټۍ خنداد ګل مسکا ، د
بلبل نغمې د نسیم وزمې د
غونچې تبسم دبورا ترنم هر
بوټی سره وتخناوه اوله ډېری
مستۍ نه ټول کائنات پیغلی
او زلمی لاس ترلاسه دبېدیا

ننداري ته د يو عالم مستۍ
او شوخۍ سره جوپې جوپې
وخوځېدو .

هو ! چا کوړۍ و وړۍ
زلفې ټينګې کړې ، چا سرې
منګولې کلکې کړې او چالا
په سرو شونډو سوګندونه هم
وخواړه - چا تورو ستر ګوته په
غټو غټو وکتل ، چا چنګ وغوښت
چا بنګ ، چا سجدې وکړې
او چا طوافونه . خيالونه نوی
ټالونه نوی او خالونه هم ورسره
نوی شو - دژوند پايه لوړه لاړه
دمينې او محبت يادګارونه او چت
شول دعشق په انقلابي پارلمان
کښې نوی تصويبونه وشول ،
دحسن او سينګار سوداګرو
نوی قراردادونه لاسليک کړل
او مينانو هم نوی ترونونه سره لاس
ليک کړل .

درنګ او بوی کاروانونه وخو
ځيدل ، او دمستۍ او هستۍ جوپې
راروانې شوی . ورېځو دپسرلی
درنګينی تاوی په سنګينې ډولۍ
بې شماره سپينې ملغلری وښندلې
او بارانونو ئې استقبال ته
سمه غر ، دښتی او ښارونه آبپاشی
کړلو . لنډه داچه استادانو خپلو
شاګردانو ته بوې سپارې بېر
ته کړی مليار بيا شمله نيغه کړه
او دبڼ خيابانونو کې له خياله
ډک چکر وهی . ګلان يو بل
ته سره په خندادی - لر وبر ، په
زوړځوان دخوښۍ او خوشحالۍ
اختر دی پيغلو دزېړو ګلو هارونه
او د سرو ګلو اميلونه جوړ
کړل او نوی ژوند او نوی موسم
او نوی حال ته ئې په نوی نګاه
وکتل . ريدی او غاټول په بيديا
کښې ککرۍ او بيرغونه پورته

کړل د پسرلی د هر ګلی
دپاره په ټوله ځمګه باندې
رنګا رنګ طلائی او بخملی
فرشونه وغوړيدل . شپونکې
په لوړه غونډۍ په نوې زمزمه
او نوی آهنګ شپيلۍ پوه کړه
د نوی ژوند دخوشالی مراسمو د
ګډون په وخت د ګلزار هر
نيالګی ، هر بوټی ، هر ی لښتې .
هر ی څانګې ته غاړه غړۍ
ورغله او غيږ په غيږ ئې د نوی
ژوند تبريک ورته ووايه پيغلې
او زلميان دې زړه وړونکی ننداری ته
ولاړ دی باران ميلو ته ولاړل او
آشنايانو د ديدن تکل وکړلو
اوف .... کاش .... زما ګران
آشنا هم په نوی کال کښې ژوند
ته نوی رنګ ورکړی او د آرزو
ګانو جوپه دامید ونو د قافلی
سره ژرتر ژره خپل پړاو ته
ورسيږی

له انګلیسي څخه

د ښاغلي نور محمد تره کي ترجمه

خپلي لور ته د ښاغلي نهرو یو لیك

تقریباً ۲۷ کاله پخوا ښاغلي نهرو دهنداوسني صدراعظم خپلي لور (اندیرا ګاندهي) ته دالاندي لیك له بندي خانې څخه استولی ؤ:

زما په هغو لیکونو کښې چه ماتا ته (مسوري ته) درلیږلی وو سعی مې کړې وه چه تا پردې پوه کړم چه انسان د خپل وړاندی تګ په ترڅ کښې به خپله ټولنه کښې څه ډول، بیلو، بیلو ډلو یا طبقاتو ته وده ورکړه دلومړنیو انسانانو خپل خوراك په خورا رحمت سره مونده کاوه، دوی به هره ورځ ښکار کاوه او په ځنګلونو کښې به ئې میوه او دانه ټولوله او په دی توګه به دیوه ځای نه بل ځای ته تلو. په ورو، ورو قومونو وده وکړه. دا قومونه بل څه نه ؤ پرته دلویو لویو، کهولونو څخه چه یو ځای به ئې سره ژوند کاوه او پر یوه ځای به ئې ښکار کاوه، ځکه چه په یو ځای والی کښې د دوی ساتنه تر بېلوالی نه ښه کیدله. بیا یو خورا لوی تحول پېښ شو. یعنی د کرهڼی چل و موندل شو. چه یې د بشر په ژوندانه خورا درنه اغیزه وښندله. خلك پردې وپوهیدل چه د کرهڼی دلارې څخه خوراك لاس ته راوستل تردی څخه چه تل په ښکار او میوو پسې منډې وهی؛ خورا آسان او په زړه پوری کار دی. نو دیو بې کولو او د کرهڼی د نور کار و کولو دپاره لازمه وه چه په سمو مځکو کښې هستو ګنه وشی او لکه دپخوا په شان په خوراك پسې هری خوا ته ونه ځغلی همداسې چه خپلو کسرل شوو مځکو ته نژدی هست شولو. چه همدی هستېدلو د کلیوالی او ښاری ژوند موضوع منځ ته راوسته.

د کرهڼې داغیزې سره سم نور تغییرات هم منځ ته راغلل یعنی هغه خوراك چه د کرهڼې په وسیله به بهیه کیدی تر هغی اندازی نه خورا ډیر ؤ چه به د ښکار او یا بلی لارې په وسیله لاس ته راتلو، نو بی له دی امله په یوه پلانه شو مصر فولای دغه اضافګی خوراك به ئی ذخیره کاوه. د ژوندانه ډګر نور هم پراخ او تر پخوا پسې پیچلی شو، بیلو بیلو ډلو یا طبقو بیل کارونه شروع کړل.

ځینو به په کرونده کښې کار کاوه او ځینو به بیا په اداری او تشکیلاتی چارو ګوتې پورې کړې، اداره چیانو ورو ورو قوت و موندا و پر له پسې ملکان خانان، حکمرانان او اشراف منځ ته راغلل ځکه چه قوت د دوی په لاس کښې ؤ نو دوی به د خوراکی موادو لویه برخه چه

د کرهڼې په اثر به لاس ته را تله
خپل ځانته کړه، په دې تو گه
دوی بډایان کیدلو هغه خلك چه
په مځکه کښې په کار بخت وو
په گیډه هم نه مړېدل. بیا داسې
وخت راغلو چه همدغه اداره چیان
دومره لټان شوو چه اداری
کارونه ئې هم له لاسه نه
کېدلو او سره له دې چه تل به لاس
تر زنې ناست وو بیا یې هم
د بزگرانو مړۍ له خولې څخه
اخیسته، دوی په داسې فکر کولو
پیل وکړ چه گوندې دوی حق
لری چه د بل په کار او زحمت
دې ژوندو کړی او پخپله دی
هیڅ کار هم نه کوی. دلته ؤ چه
د خوراك حاصلولو چمونو او لارو
د کرهڼې د طرز د موندلو په اثر
آسانتیا و موند له او د ټولی
ټولنې بنسټ ئې بربله خوا واړاؤ.
په نتیجه کښې خلکو د هوسائی
د پاره ډېر وخت و موند، او مختلفی
ډلې یا طبقې په ټولنه کښې را
پیدا شوی. ځکه چه د ټولنې ټولو
خلکو د خوراکی موادو، د تولید
په کار کښې د برخې اخستلو
د پاره اړه نه درلوده، نو یوه برخه
خلك په نورو کارو لگیا شوو
خو دا هم باید وویل شی چه قوت
د پورته ډلې یا طبقې به لاس
کښې ؤ

ته به د تاریخ په بله وروستنۍ
برخه کښې هم وگوري چه
د خوراك موندلو نوې طریقې
څومره لوی تغییرونه او لوازم
د گرته را ایستلی دی. انسانانو
د ژوندانه ځینو نورو شیانو ته هم
دومره احتیاج احساس کړلکه
خوراکی شیانو ته. له همدې جهته
هر څومره لوی اوستر تغییرونه
چه به د ژوندانه د شیانو په
تولیداتو کښې منځ ته راتلل په هم
هغې اندازه به د ټولنې په عمومی
چارو کښې هم تبدیلۍ راتلی.
دلته یو مثال در کوم: کوم وخت
چه په کارخانو کښې د بخار
قوه استعمال شوه او د هغه په اثر
اور گاډی، او د اوبولوئی بخاری
بېړۍ مینځ ته راغلی نو
د ژوندانه د شیانو پر تولید و او
اوویشلوئی هم درنه او څرگنده
اغېزه وکړه. هغو فابریکو چه
د بخار په قوت گرزېدلی خپل
تولیدی معیار خورا اوچت کړ
او ترلاسی کار کوونکو څخه
ئې هر څه په بېړه او زیاته اندازه
جوړولو. لوی ماشینونه واقعاً
خورا حیرانونکی آلات شمېرل
کیدلو. اور گاډو او بېړیو
به د دغو کارخانو محصولات او
د خوراك مواد خوراژر لیری لیری
ځایونه رسول. نو ته پخپله فکر
کولای شې چه دغه وضعیت به په
نړۍ کښې څومره بدلون را
وستلی وی او د خلکو په ژوند
به ئې څومره اثر اچولی وی.

د تاریخ په بیلو بیلو دورو کښې
انسانانو د خوراکې موادو
او د ژوندانه د نورو شیانو
په تولیدولو کښې خورا لوی او
موثر گامونه اخستی دی او نوی
نوې لارې چارې ئې موندلی دی.
ته به فکر وکړی چه دغو نوو
وسایلو به د نړۍ پرشتمنۍ او بډائی
باندې ښه اثر اچولی وی او هر
څوك به ئې بډای کړی وی.
خو دا باید وویل شی چه ستا دغه
گمان هم رښتیا دی او هم غلط.
ښو او په زړه پورې وسائلو حقیقتاً
نړۍ بډایه کړه. خو د نړۍ
کومه برخه ئې بډایه کړه؟

داخو څرګنده ده چه زمونږ په مملکت کښې تراوسه پورې هم نیستی او خواری زښته ډېره ده داخواری یوازی زمونږ په ملك کښې نه بلکه د نړۍ په خورا بډایو ملکونو کښې هم لکه انګلستان لیدل کیږی، نو دا ولی؟ دا دومره شتمنی چیرته ډو بیږی؟ دا عجبه ده چه سره ددی چه د نړۍ شتمنی ډېره شوې او لا پسی ډیریږی خو، خواران او نېستمن هماغه ډول خوار او بك پمن دی.

په دې کښې شك نشته چه د ځینو ملکونو خواران یو څه ښه شوی غوندې دی. خو باید وویل شی چه دغه ښه والی له هغې شتمنی سره تناسب نه لری چه نړۍ راغونډه کړې ده دا ته موږ په آسانۍ سره لیدلای شو چه دغه شتمنی چېرته او دچا جیبو نو ته ځی.

دا دهغو خلکو په جیبو کښې توئیږی چه هغه ځان پورته ډله بولی او داسی تصور کوی چه په هر ښه شی کښې باید د دوی خورا درنه اوستره برخه وی. تر دی لا عجیبه خو داده چه په تولنه کښې داسې طبقې او ډلې راپیدا شوی چه پخپله هیڅ کار نه کوی خو د نورو د زحمت او کار له ثمر څخه خورا درنه برخه ځانته ږدی.

ته به داومنې چه دغه ډول بېکاره طبقو او ډلو ته احترامونه لا هم کیږی. ځینی خو لا داسی خلك هم شته چه د خپل ژوند د تامینولو د پاره کار کول لوی عیب ګڼی او هغه د خپل شرف منافی بولی. نو دا دی سرچپه وضعیت چه زموږ په نړۍ کښې موجود دی د دغسی وضعیت د موجودیت په اثر بزګران چه تو له ورځ په مځکو کښې زیار باسی او خوراکی مواد تولیدوی وږی او بربنډ وی او هم کارګران چه په فابریکو کې د ژوندانه ډول ډول وسایل تهیه کوی او څ لپړ ژوند تېروی. د دوی د زحمت حاصل هغه خوری چه هیڅ کار هم نه کوی مونږ په دی وختو کښې د خپل مملکت د خپلواکی خبری کوو، خو که دغه «سرچپه وضعیت» اصلاح نه شی او هر چا ته د خپل کار او زحمت ثمر و نه رسیږی نو «آزادی» به په څه در دوخوری او زموږ د پاره به څه ښېګڼی ولری؟ د سیاست او حکومت د آرت په شاؤخوا کښې خورا پنډ او درانه کتابونه لیکلی شوی دی. د اقتصاد او د ملی ثروت د ویش په خصوص کښې اوږدی او خوږی خبری کیږی او پوه پروفیسوران په دی برخه کښې هر څه وائی، خو څو مره چه ډېر ویل کیږی هغو مره خوار خلك پسې خوار یږی او وږی پسې خواستغی کیږی.

دوه سوه کاله پخوا د فرانسی خورا نامتو سړی (ولټر Voltaire) د سیاست او سیاست چلوونکو په خصوص کښې څه ښه ویلی وو:

«دوی د خپل ښه او غوره سیاست په اثر د هغو خلکو د خواستغی کیدو او له لوږی وژلو ښه او غوره آرت و موند چه هغوی تل مځکه یوې کوی او نورو ته د ژوندانه وسایل راغونډوی».

په درو صحنو او څلورو پردو کې بوډرام . (بیـنوا)

زوړ گنهکار

لومړۍ صحنه

لومړۍ پرده پورته کېږي:

(دمېلمنو یوه اوږده کوټه ده، درې خواووته ئې نالیچې غوړېدلی او دتکیې دپاره بالښتونه پراته دی، د کوټې غولی په سرو کمبلو فرش دی، درې دخولې د سوارو تفدانۍ د کوټې درې خواوته دنالیچومخ ته پرتې دی اردوه د گیسو څراغونه د کوټې منځ کې پراته دی- پرده چه پورته شی نود وه تنه لیده کېږي چه یو کوټه پا کوی، او نالیچې سموی او بل د گیس څراغونه لګوی او بمبه کوی ئې، یو کوندل نومېږي چه اوږده برېتونه لري. عمر به یې څلوپښتو ته رسېدلی وی او قواره یې هم دچرسیا نو ده. بل «پردل» یو شل کلن خوش شکله زلمی دی چه نا بـلده ښکاري.

کوندل :- (د چرسیا نو غوندې خاندی. او پردل ته وایی:) ته بالکل بې غمه اوسه. دلېونۍ زوپکر (فکر) دې سته غوږ پرنیسه چه هېر دې نه سی داسې به دې ساتی لکه سپین وری . . .

پردل: - ته وا څو تنخا به راکی ؟

کوندل :- تنخا؟ دلیونۍ زوپکر دې سته .. که ئې په خوی وبوی بلد سوې هر څه چه عواړې. وادی ورېدو ؟

پردل:- خودده خوی وبوی؟

کوندل :- (دچرسیانو په رقم په مسخروسره) ته مې اجب (عجب) لېونی ولیدې، وادی ورېدو- دلېونۍ زوپکر دې سته غوږ پرنیسه چه هېر دې نسی- دغټانو خوی وبوی بیاڅه وی؟ وادی ورېدو، بلی بلی سا یب سا یب (صاحب) ورته لره، چسپ چسپ سلامونه ورته اچوه، هر څه چه کوی وایه «ډېرښه» نو وادې ورېدو دلېونۍ زو. نورنو داغټان ډېر کوچینیان دی- هو آغا! پکر دې سته غوږ پرنیسه چه هېر دی نسی. که غوړه مالی دې کوله نو د ستر گوتوریې- وادې ورېدو....

پردل:- داسې به هم نه وی، وایی دغټانو پکرونه غټ وی.

کوندل :- (دنسوار وډبلی له جیبه راباسی. یوه کپه نسوار خولې ته اچوی او د چرسیانو په لهجه وائی) یه یه - وادې ورېدو، دا نه غټان دی نه مټان خوشی لاډوگان دی- هو! دلېونۍ زوپکر دې سته ما هم پنځلس کاله پخوا چه لانه وم نو کرسوی دغه چورت واهه چه زه به ددې غټانو په ژبه بېخی پوه نسم خو چه یو څو میاشتی مې ورسره تېرې کړی، ولا آغا- زه داسی ورته ښکارېدم لکه ملا کټه اخوند وادی ورېد ...

(دواړه خـانـدی)

پردل :- که داسی وی خو ډېره آسانه نو کړی ده ...

کوندل :- (نسوار ئې لا په خوله کښې دی) هو! دلېونۍ زوپکردي سته غوږ پر نیسه چه هېردې نسی- دا کسان نه کار غواړی نه مار- پکت (فقط) که دوی ناست وو، ته ورته ولاړ اوسه، که ده ډوډۍ خوړله ته اوبه ورته نیسه. که استنجا ته تیء ته ګډوه ورسره وړه. که ئې نسوار ګول ته تودانۍ ورته نیسه، که ئې بزه سوغکوله ته دسمال ورکوه، که ئې خندل ورسره خانده که ئې تبی ات (طبیعت) لږ خراب وه ته هم داسی ځان ونیسه لکه نن چه دې پلار مروی - وادی ورېدو دلېونۍ زو نور نو هیڅ نسته ..

پردل :- (خاندی) داخود تولو غټانو خوی دی ستا بادار خوڅه خاص (خاص) خوی نه لری،

کوندل :- (په خندا) زما بادار؟ په آغا- وادی ورېدو؟ دلته داخبرې نسته- ها، خو ګوره دلېونۍ زو دا یوه خبره تینګه په غوږ کې ونیسه- پکردې سته چه که دې بادار ولید چه برېتو نه یې کښته څرېدل، نو آغا کونه په موته کې ځنی سا ته وادی ورېدو ؟

پردل :- دا نوول نلری تولې بخۍ دی - وادې ورېدو دلېونۍ زو غوږ پر نیسه چه هېردې نسی داد بادار دغزب (غضب) نخښه ده- هو آغا! که ئې کرک نښتېدلی وه، یا ئې سپی ښه جنګ نه وه کړی او یا ئې چرګ میدان بایللی وه، نو برېتو نه ئې کښته ځړېږی، او که ئې میدان ګټلی وه، برېتو نه ئې شک شک درولی وی. وادی ورېدو ؟

پردل :- ښه پوه سوم، بل څه داسی خاص خوی خو نلری؟

کوندل :- بل خوی؟ دلېونۍ زوپکردې سته بل خوی ئې دادی چه که ئې په کور کې وریجی پخې کړې وې نو په هغه ورځ پاړسی وایی -

وادې ورېدو آغا؟

پردل :- (خاندی) ښه بل؟

کوندل :- ځه ځه- دلېونۍ زو، تانو واښکی اوږد وغوړاوه وایی راتله ئې خوندئې ښه دی.

پردل :- ولی؟ په پوښتنه دې هم خوابد ېږی؟

کوندل :- (نسوار په تفدانۍ کښې تو کوی) پوښتنه تر پوښتنی، تا خو دلته داسا یې (احصائی) دوتر (دفتر) وغوړاوه دلېونۍ زوپکردې سته چه وایی: پلار دې چېری زو کړی؟ نه مور چېری زېږولی یې: غاښو نه دې څو دی؟ څو نه اوږد یې؟ څو نه پلن یې؟ او آخر ته هم دلېونۍ زوپکردې سته که خیر بالا ورسره ونسی پنځوس کاله امر (عمر) به په شل کاله وکاږی او تر زوی دمخه به دپلار پچه وغورځی وادې ورېدو؟ غوږ پر نیسه چه هېر دې نسی..

پردل :- (خاندی) ښه نور دی ته پا زابوم (په عذابوم)، خود ګذارې او جایداد په باب کې دې څه ونه ویل چه څنګه سړی دی!

کوندل :- سړی مه وایه دلېونۍ زو، واڅنګه بادار دی؟

پردل :- (په موسکی) ښه سړی ئې نه- بادار ئې خو جایداد او ګذاره ئې څنګه ده؟

کوندل: (په مخصوصه خندا) هغسی نو خوار هیڅ نلری،

دلېونۍ زوپکر دې سته، پکت
یو درې زره جریبه ځکمه، یو اته
نه باغه د انګورو او دوه درې
کار یزونه لري، وادې ور ېدو
نور نوغوائي. آسان، او ښان.
خره او ماو تاغوندي ډېر ځناوران
لري- دلېونۍ زوپکر دې سته
خو بیائې هم یوه نه دوې کېږي.

پردل:- دا نو عجبه ده- څنګه
ئې یوه نه دوې کېږي!

کوندل:- خو بائې وطنداران
ځنی خو ری او یائې همسایګان،
وادې ور ېدو! خوا رئی پوست
کئی پوست... دلېونۍ زو وتندا
رانو ته (وطندارانو ته) پیسی
او همسایګانو ته غلې، کالی.
دژمی لاندی او نور هر څه ور کوی
پکر دې سته!

پردل:- که داسی وی دا خو
ډېر مېړه بادار دی!

کوندل:- مېړه خو دی- مګر
دلېونۍ زوغوږ پر نیسه چه هېر
دې نسی همسایګان ئې تول
سازنده او ډمان دی، وتندارانو
ته په سود او ګټه پیسی ور کوی،
شاوخوا باغونه او ځمکی ئې
د سود په پیسو ګرو کړی دی،
وادی ور ېدو! او یو سر هم دی..

پردل:- څنګه یو سر دی!
زوی موی نه لری!

کوندل:- یو زوی لری،
خو دلېونۍ زو هغه ئی هم له
کوره شړلی دی- یو ئې هم ور ور
درلود چه د میراث (میراث) په
سبب ئې په غلو مړ کیء. وادې
ور ېدو، او دور ور شپږ کلن زوی
ئې هم له کوره و شاړه دا څورلس
پنځلس کاله کېږی چه هیڅ
درک او خرک ئې معلوم نه دی
پکر دې سته د لېونۍ زو...
(له د باندی څخه د پښو
کړېهار ارو ېدل کېږی)

کوندل:- (وار خطا ولاړ ېږی)
هغه دی راغی- د لېونۍ زو
پکر دې سته ژر، ژر. پورته پورته!
د اړه ولاړ ېږی، ژر ژر نالیچی
درستوی په دې وخت کښی ئې
بادار کوتې ته راننوزی شپېته
کلن سړی معلومېږ. لوی
اوږده تاو کړی برېتونه لری.
توره چپنه ئې اعوستې او مشهدی
لونګۍ ئې تړلې ده. زیره ئې
سپینه خو په رنګ ئې رنګ کړې
ده یو بل سړی هم ورسره دی
کوندل سلام ور اچوی او
کوندل تر هر څه دمخه د بادار
برېتونه ګوری، وینی چه بادار ئې
برېتونه پورته خواته تاووی،
کوندل خپل ملګری ته موسکی
کېږی. بادار د کرک کڅوړه
کوندل ته ور کوی او وایی:)

بادار:- زویه! نن بیا نخش
راغلم، میدان مې وګ ته
(ځی پر نالیچه باندې کښېنی)

کوندل:- (د غوړمالۍ په لهجه)
آغا باداره! بلادې واخلم زه
لا اول ستا په برېتو ویوهېدم
(کرک مچوی) جارسم، ترتارو
غاړی- دلېونۍ زوپکر دې سته

بادار:- (په خندا) لادې مردار
تکیه کلام له خولې نه دی
غورځولی؟

کوندل:- (خپل سر په څپېړه
وهی) څه وکم باداره بلادې
واخلم دا مې اوس مردار عادت
سوی دی- شوده او شکسته خلک
یو پکر دې سته دلېونۍ زو..
(تول خاندی)

کوندل:- (درقص او ګډا
په توګه) واوا جارسم، نن به
آغا بادار یوه مېله راکې.

(د پردل خواته مخ گرځوی)

هو! د لېونۍ زوپکر دی سته غوږ پرنیسه چه هېردی نسي.

بي پرواخان :- (د بادار ملګری بادار ته وائی) ښه وائی، دا ستا ګلي ګلي همسایګان به نو کله په ښه راځی؟ دا نن دمیدان ګټل خو په یوجم او جوش ارزی.

بادار :- (په موسکی) داخو څه ګرانه خبره نه ده! کوندله! وروسته «دورو» دوی ته ووایه چه دشرنګ و شرونګ سره راسی...

کوندل :- (ددروازې خواته چټک چټک ځی)

جارسم آغابادار! چه ستا مرګ راځی خدای دي هغه خړ رتان مړه کړی چه نه ئي په ځان خوری نه ئي په بل. هو! دلیونۍ زوفکر دي سته چه هېر دی نسی.

(ټول خاندی او کوندل هم وزی)

بادار :- (پردل ته مخ را اړوی) ځوانه! ته د کم ځای یې؟

پردل :- زه دلوړې خوایم.

بادار :- چیری ځي؟

پردل :- غواړم نو کری و کم کوندل لالا راته وویل چه زما دبادار سره نو کر سه.

بادار :- دمخه دچاسره وی؟

پردل :- دمخه تالب (طالب) وم درس مې وایه..

بادار :- (په موسکۍ) چه طالب یې نو زما اوستا دا سره ګردانه ده، ولی چه دخندر کی یا کوټه سپی دساتلو به ته بدوړې د کرک ګرځول به دی هم نه وی زده، او ستا لېچی دغلا او سړی وژلو هم نه رامعلومېږی..

بي پرواخان :- دمرزائی دپاره خوبدنه دی.

بادار :- هو، داسپک سپک کارونه نو د طالبانو دی او بل دا چه زه هغه خپل مرزا کډو هم پزی ته راوستلی یم، په غوږو کوڼ دی او ستر ګې ئي هم نه وینی - ښه طالب جانه ته ئي زمامرزا.

(په دې وخت کې کوندل راځی)

بادار :- څه دې کړه؟

کوندل :- آغابادار ه! دستی راځی.

بادار :- یوه خوله نسوار!

کوندل :- (دمسخرګۍ په توګه دنسوارو د بلی له جیبه راباسی) جار، بادار، نسوار، تیار، هزار، خروار -

(ټول خاندی)

بی پرواخان :- بیا دې شعر جاری سو؟

کوندل :- (دبادار په ورغوی کښی نسوار ور اچوی څنګه جاری نسی چه ده غوندی بادار لرم (بادار ته اشاره کوی) هو! د لېونۍ زو پکر دې سته غوږ پر نیسه چه هېردی نسی.

(په دې وخت کی «دورو» سازنده د خپلی جوړې او ډلې سره راځی - سلام اچوی)

بادار :- استاده جوړ یې؟

استاد :- باداره د سر دوا (دعا) دې کوو.

(سازنده کښېنی او ساز شروع کوی)

بادار :- استاده! (ساز چپېږی)

استاد :- قربان باداره !

بادار :- داوچ او خالی ساز نوڅه کوو؟ شرنگ او شرونگ چېرې دی؟

استاد :- دستی راځی. (دنڅا او ګډا ساز شروع کېږی یو نڅېدونکی هلك او یوه نڅېدونکی ښځه چه د ګډا مخصوص کالی ئې اغوستی په ګډا ګډا کوټې ته را ننو تل . پنځه شپږ دقیقې ګډېږی او کوندل دمسخرګۍ په ځانته توګه خپل سرښوروی او د کرك په کڅوړه چه په لاس کښې ئې ده خندوونکی حرکتونه کوی - او پرده ورو ورو لوېږی) .

دوهمه پرده

لومړۍ صحنه.

(همهغه دمېلمنو کوټه ده ، یوازې یو کټ زیات شوی دی کوندل د بادار ږیره او سرر نګوی بادار پر کټ ناست دی او کوندل یې په ولاړی سر او ږیره ورتوروی پر دل هم د کوندل شاته څو قدمه لیری ګډوه او لکن د بادار د ږیرې او سر مینځلو دپاره تیاروی)

بادار دا دږیری او سرر نګول هم لوی تکلیف دی نن چه رنګ سی دوهمه ورځ بیا دوېښتانو بیخونه سپین سپین ښکاریږی .

(په تأثر او غمګینه لهجه)

افسوس ځوانی ولاړه - څه ښه وخت ؤ!

پر دل :- دا وخت پر هر چا تیریږی خو باداره سړی نو خپل سپین ږیر توب ولی پټ کړی.

کوندل :- ولی؟ دلیونۍ زو پکر دی سته - د بادار وېښته که سپین دی زړه خوئی ځوان دی وادې وریدو..

بادار :- (په تأثر سره) هو! زړه می ځوان دی تر او سه می لا د ښایستو مینه له زړه نه ده وتلی

پر دل :- باداره زما د سرامان دې.

وی - ممکنه ده ستا مینه د ښایستو له زړو څخه وتلی وی.

کوندل :- (په وار خطا لهجه) څه وائی دلیونۍ زو پکر دی سته

بادار :- ښه وائی - زما مینه د ښایستو له زړو څخه وتلې ده. خو زما څخه داسی قوت سته چه د هغه په زور خپله مینه په زوړو کی واچوم .

کوندل: (د پر دل خوا ته ګوری) هو ! د لیونۍ زو پکر دې سته غوږ پرې نیسه چه هېر دې نه سی

پر دل :- باداره ! هغه څنګه قوت دی ؟

بادار :- (د خپلی بټې کوټی نوك پورته غور ځوی او په موسکې سره وایی) پیسې! پیسې !

پر دل :- باداره! زما د سرامان دی وې - ستا خیال دادی چه په پیسو هر څه کیږی ؟

بادار :- هو! په پیسو هر څه کیږی او ما ډیر ناشد کارونه په پیسو کړی دی - په دغه سپینه ږیره می شپږ پیغلی په نکاح کړی چه یوه مړه دری ژوندۍ او دوی یی د پلار پر کور مړی سوی دی.

کوندل :- هو ، د لیونۍ زو ! هغو دوو پیغلو د پلار پر کور زهرو خوړل ، که د پیسو زور نه وای تر او سه به لاهم پر (محکمو) کر ځیدو . وادې وریدو ؟ پکر دې سته.

پر دل :- که د بادار اجازه او زما د سرامان وی. له دې څخه هم معلومیږی چه هر کار یوازی په پیسو نه کیږی او پیسو وشوه کولای د هغو دوو پیغلو په زړو

کی دچامینه په زور ځای کې

کوندل:- بادار دې ژوندی وی، دلیونی زو. دبنځومرګ څه دی، وادې وریدو؟ داسی دیری پیغلی دې دده دسر بلاو اخلی- هوا پکر دې سته . .

پردل :- کوندل لالا دا به زلم (ظلم) وی .

کوندل :- پریزده ! دلیونی زو پکردې سته، ته دخیلی تالبی (طالبی) درسونه دلته مه زبتوه (ضبطوه)

(دبادار سر به دستمال تړی)

بادار:- (خاندی) ماهم دا بلالیدله چه خپل زوی می په اته زره روپی له مکتبه خلاص کړ- اوس به هغه هم دا بابولا بې رانه ویلای.

پردل. مګر بادار! که دسر امان وی هغه بابولا بې خوئې تردا اوس هال (حال) ښې وې . غل سو، چرسی سو او اوس ستا سر ته هم بلادی.

بادار:- خدای دې زما پیسې نه را څخه اخلی، دا کار هم پیسو ته اسانه دی د کوره خومې شرلی دی، څو ورځی وروسته به ئې له وطنه هم وشړم.

پردل:- بادار، که نه په کار یږې نو خدای به ددې دیاره چانه بیسی نه ور کوی چه یا څوك به ووزنی یا څوك له مکتبه په خلاص (خلاص) کی. یازوی په وشړی او یا غله به وسانی .

بادار:- (ابزګه به جدیت) بس! بس! نه نو اوس مانه ځان ملا ګټه اخون مه جوړوه. مانه خوئې را کړی دی هرڅه چه مې زړه غواړی هغه به کوم. څوك به ئې راڅخه واخلی.

کوندل:- ښه وائې. ته خپله مرزائې کوه- دلیونی زو ستائې له دې خبرو سره څه!

(د کلا دروازه تکیږی)

بادار:- کوندله! و ګوره څوك دی!

(کوندل وزی اوله هغی خوا یو یا کټ را وری بادار نه ئې ور کوی بادار ئې خلاصوی خوو یلای ئې نه شی نو بردل ته وائې:)

بادار:- راسه ملا کټه اخوند ستا کار دادی، داخو وو ایه.

پردل:- (خط اخلی او پر لوړ آواز ئې وائی)

دعا و سلام خریت الا نجام بصدشوق وآرزومندی تمام از طرف حقیر فقیر پر تقصیر خاك پا اختر محمد برند .

کوندل:- (دمسخرو په تو که) دې سړی لکه چه ما بنام ته ور بجی یخې کړی چه خط ئې په پارسی نوشته کړی دی- وادی وریدو دلیونی زو . . .

پردل:- هوا داهم یوغم دی. ښتا به بې ری پښتو به سره وائې. خو په پښتو به څه لیکی. مګر دده ئې کو ر و دان دانو ر ه برخه ئې په پښتو لیکلې ده . .

کوندل:- خیر نو کیچری ئې یخ کړی دی .

بادار:- ته نورې خبرې پریږده خط ووایه چه د لور په باب کښې ئې څه ویلی دی؟

پردل:- (خط وایی زه اوزما کورنی د ښه نیک مرغه یو چه ستا سره خپښتی وکړو خودا نجلی اوس دستی راضی نه ده . .

بادار:- عجیبه ده! خود اته ئې اکبی. نجلی څه اختیار لری! ښه نور وایه.

پردل:- (خط وایی) خوزه به دیر کوشش وکم، که به زوروی او که په زاریو رضا به ئې کم. (بادار خو ښیږی) خو په دې

شرط چه خپله وعده دمخه پر ځای کړې ..

بادار: دېرش زره افغانۍ مې دمخه وعده ورسره کړې ده. دېرش زره څه چه که انجلۍ په لاس راشي په یو لك روپۍ هم ارزي. څنګه کوندله.

کوندل: هو! باداره! بیائې دیوه باغ ګروی نه سیی وادی ور ېده ..

بادار: په دې کښې څه وائې پردله! پیسی داسی کار و نه هم کوی..

(پردل غواړی څه وو ائې خو بادار موقع نه ور کوی ورته وایی) ښه ښه ته اوس خط وایه داخبرې به بیا کو و ...

پردل: (خط وایی) مګر دوې نورې ټکې هم لوېدلی دی، یوه داچه ستا زوی اغاجان هم مرکه رالېږلې ده او دانجلۍ ئې دځان دپاره غوښتې ده او ویلی ئی دی که ئې ماته رانه کړیء نو بدی درسره کوم ..

بادار: (په جدیت سره) زما زوی؟ دونې بې شرمی؟ دونی بې حیائی؟ هیڅ امکان نه لری. زما زوی دمخه تر دې چه ددوی سره بدی و کړی زما بدی ته به مجبور شی، زه دداسې زوی ژوند نه غواړم، د کور شیان چه ئې هر څه غلا کړه خو غلائې کړه، روپۍ چه ئې هر څه یووړې خو یوئې وړی، مګر اوس غواړی چه زما ناموس هم دځان کړی ..

کوندل:- توبه. توبه- کشکې دې دمکتبه نه وای خلاص کړی.

بادار: - چپ شه احمقه!

(کوندل له بیری ترشا شاځی) ښه پردله ته خط ترپایه ووایه.

پردل: (خط وایی) او بله ټکه داده چه ته خوخبر ئې چه ددی نجلۍ پلار پخپل ژوند دانجلۍ ستا دور اره په نامه کړی وه او ترهغو چه ستا دوراره دژوند او مرګ درك معلوم نه شی نو دابه یوه مشکله خبره وی چه نجلۍ تاسې و کړیء!

(په دی وخت کښې دپردل دمخ ښه لږ اوړی اولاس بې لږ غوندی رېږدی)

بادار: (په قهقه خاندی) زما وراره!! هغه به اوس دوخته توری خاوری خوری (بیا یوه خندا) او که ژوندی هم وی څه کولای شی؟ زه پیسې لرم پیسې (بیا یوه خندا) پیسو ته هر کار اسانه دی. دی خبر نه دی چه زما ور ور د چا په پیسو مړ شو! (بیا یوه خندا) (دپردل کاغذ له لاسه لوېږی مخ ئې سورشین کېږی او وایی)

پردل:- باداره! پرزړه مې سستی راو او ښته نور نه شم ویلای. (په ډېر قهر له کوټې څخه وزی)

بادار:- (بیا یوه لوړه خندا) داطالبګی بیا ګوره- څه کوی؟ او په څه قهر او غضب ووت؟

کوندل:- ته باداره! هغه تالب دی په امر ئې د مړی خبری نه دی اروېدلی. ښه دی چه اوس ئې زاره و نه چاودله. وادی ورېدو ...

بادار: (په جدی لهجه) زما داسې مرزانه دی بکار.. ورته ووایه چه خپل کالی پر څټ کړی. ورشه مزرا کډوته ووایه چه راشی او د دی خط ځواب ولیکی.

کوندل:- پرستر ګو باداره! وادی ورېدو ...

(کوندل وزی)

بادار:- (له ځانه سره) عجبه زمانه ده، خپل زوی را ته بلاشو دلستونې ماردی مګر خیر ...! داد زړه معامله ده. به دی کښې زوی موی هیڅ معنا نه لری که دا نجلۍ غیږ ته را ولم شل زامن به ترجار کړم دوې ورځې ژوند دی، هغه چه هم به خوښې نه وی نوڅه خوند کوی.

(په موسکی) هه! څه عجیبه خلك دی، پیسی می خپلی دی ستر کی ددوی را باندی سرې دی، وائی: ولی ئی په کټه ور کوې؟ نو په تاوان ئې ور کم؟ او ما خو به زور څوك نه دی مجبور کړی چه خامخا دی خپل باغ، مځکه پرما ګرو کړی. دوی زاری را ته کوی او دخدای رو یو نه را ته ګرځوی وائې: ولې کر کان کوی؟ نو څه ور کم؟ په څه شی سات تیر کم که یو دمو لاو ری مې نو کرسو وائې بچه بازئې .. ګرد چا نه دی خوښ؟ که په سپینه زیره دا کار کوم څه عیب لری؟ پیسې لرم، زما تول عیبونه پیسې پټوی ..

(مرزا کډواو کوندل راځی سلام اچوی، مرزا کډو یه غوږ و کوږ دی).

بادار:- دلته نژدې کښینه چه زما خبرې واوری.

مرزا کډو:- شکر دی د سر دعا دې کوم.

بادار:- بلادې بر دا کښو غوږو شه!

مرزا کډو: خدای دې عوض در کړی.

بادار:- زما ما غزه خو به را وخوری.

مرزا کډو:- هیڅ بر وانه لری دلته ښه دی.

بادار:- خدای دې ورك که!

مرزا کډو:- سلامت اوسې له تاسره..

بادار: کوندله! ته دا بلا یوه که.

کوندل: بادار وائی: دلیونۍ زو یکر دې سته خت (خط) ولیکه.

مرزا کډو:- بادار دلیونی سوی دی-؟ استغفرالله، استغفرالله یه یه خدای دې نه کوې، دا ته څه جك و هې-

کوندل:- یه! یه! زه نه وایم بادار وایې- دلیونۍ زوغوږ پری نیسه چه هیر دی نسی خط ولیکه.

مرزا کډو:- بادار وایې زه دلیونۍ زوی یم؟ (سر ښوروی) ښه وائې چه خدمت برباد ګناه لازم افسوس افسوس صه افسوس!!

کوندل: یه! هغه زه وایم بادار وایې خت ولیکه ...

مرزا کډو: ته وائې؟ دلیونۍ زوی ته ئې دلیونۍ زوی دی پلار دی، اوس به دی دا قلم په سپیږ مو درو مندم (پر کوندل باندې حمله کوی)

بادار: (له ځایه ولاړیږی دمرزا لاس نیسی په غوږ کښې ئې په زور وایې:)

وایم ددې خط ځواب ولیکه.

مرزا کډو:- د خط جواب ولیکم نو ولې دی دمخه په سمه خوله نه را ته ویل، دادی دستی (په وار خطائی سره هغه کلم چه دغوږ دیاسه ئې تو مبلی دی را اخلی او کاغذ له جیبه را باسی کلم بر کاغذ زدی ور باندې ښوری او له ځانه سره غوم غوم کوی) (پرده لویږی)

دریمه پرده

دوهمه صحنه

پرده پورته کېږی دچرسیانو کوټه ده، څوه گلو گلدانی پرتې دی، دوه کچکوله او یو تبرزین په دیوال ځړېدلی دی، دری دانې شمان لگېږی، څلور تنه چرسیان په مختلفو او خند وونکو کالو کښې ناست دی، دوه ئې ملنگان دی- د یوه مخ ته دچرسو یولوی چلم پروت دی چه تازه کوې اوډ کوی ئې- یو ئې رباب وهی مگر بې سره چه یوزغ ئې اوس بل دوی ثانیی وروسته خېژی) نیازو ملنگ: (څوك چه چلم ډ کوی) سوډرملنگ! څو ورځی کېږی چه آغاجان دی نه دی راغلی ؟

سودرملنگ:- ورك ئې که- څه کیې آغا- خدای دی ترقیامته دده داسپی مخ نه راو ینی. پخوا لاښه وه، دبا با دد و هې خرڅ پرده وه، اوس چه پلار له کوره شړلی دی هر څه ئی پر مونږ دی- څنگه خالو حواله داره!

خالو حواله دار: (توړی دی) هو، جارسم- نه په په ارزی- ددد دزمری نوك دچغالانو وړ نه دی. او گوره چه ها شو ده به چېری دپلار دمرگ چرت وهی ؟

بابا :-

(سپین ږیری دی): خدای دې داسې پلار هم وچاته نه ور کوی،

سوډرملنگ: بابا خدای دی داسی زوی هم وچاته نه ور کوی بله پلا که راغی پلاره زه خو ئی نه پرېږدم، د چرسیانو رنگ په بدېږی! هو! یاره خلك به وائی چه ټول چرسیان داسی بی ایمانه دی،

نیازو ملنگ:- هو! آغا دپلار بلا دی پرزوی سی دزوی دادی پرپلار سی، یو تربل بتر د خره غوږونه دی.

خالو حواله دار:- (توړی دی) نه زوی دی نه موی دی نوخربشوی دی، نه پلار دی نه ملار دی زوړ گنهگار دی- هو! جارسم.

(ټول خاندی)

سوډرملنگ: دپلار څخه ئی که پیسی لیری کړې نو په څلورو روان دی،

بابا:- زه دې ته حیران یم چه خدای دو نی پیسی ده ته ور کولی، ده خړوس په دې ۹ لمبر مخ څنگه اخیستلی؟

نیازو ملنگ: دخدای ځناوران ډېر دی او هغه ئی هم داسی خړوسانو ته ور کوی چه په چل ئی هم نه پوهېږی.

خالو:- (توړی دی!) ښه نو که تا ته دونی رو پۍ در کی څه په کوی ؟

نیازو ملنگ: په نیمی خوئی چرس رانیسم،

سوډرملنگ: ښه ها نیمی نورې ئې څه کوې ؟

نیازو ملنگ: هغه بیرته خدای ته ور کوم چه کوم بل شوده ته ئې ور کی.

بابا :- نو کشکی هله شوده زه سم چه په هغه نیمی ئې هم چرس رانیسم.

(ټول خاندی)

سوډرملنګ : (چلم تیاروی بابا ته ئې ږدی و نیسه بابا سر ئې کـه . . .

په دې وخت کښی آغاجان راځی زاړه کالی ئې آغوستی ورووروراځی اوپریشانه ښکاری)

بابا :- دادی دی هم راغی (آغاجان څه نه وائې کښینی)

(بابا چلم سر کوی) ها ! دود پردودخوردې ومری دنمرود چه نه کلمه وائې نه درود ها، چېری یې دشلومبوغله ، دماینی مزدوره کله دی پرېږدم ها ، چه بده مو غواړې پر بده دی واوړې . . .

ها- توخی) ها .. (توخی) ها - (توخی)

خالو حواله دار :- (چلم اخلی) ها ، بابا قوی مستان دور قبرت ګلستان هم بهار هم زمستان .

(ټوخی)

سوډرملنګ :- (چلم اخلی) ها ، د خونې تیردی سم د کاله په ویر دی سم ترپ در باندې ودې نړېږم - خړوسه، کوچنی دی مه لوېږه لوی دې مه پاتېږه دنیا دې خراپېږه، آخرت دې خطا کېږه درغلم چېری دجلتی ترشاپوتېږی . . . (توخی)

ها ، تپوسه چه ستر ګې دې په آسمان کې ، اندیښنې دې تش په ځان کی دی ځان ته بنګلې جوړوې او زموږ توره کوټه دی راسپینه نکړه، پېژنم دی ها، کله راڅخه خلاصېږې ها(توخی) ها (توخی)

نیازو ملنګ : (چلم اخلی) ها، زوړ موږ که ، لکۍ دی شکه ، وینم دی چه د کونډې داوړو جوال دې سوری کړی دی او اوس تښتې، چېری ځې (توخی) ها ، که آسمان ته وخېژې تر پښو دې نیسم، که په مځکه ننوځی ترغوږوی دی نیسم کله دې پرېږدم ها، موږ ئې وهو! ګناه ئې د هغه په غاړه چه دورځی ودان کورونه ورانوی او دشپې ئې شاور ګرځولې وی (توخی) ها ها ، (توخی) (چلم آغا جان ته ور کوی آغا جان چلم اخلی خو نه ئې څکوی بیر ته ئې لیرې کوی ، ټول دده خواته ګوری خو دی څه نه وایی چلم بیر ته سوډرملنګ اخلی چه ډک ئې کړی نیازو ملنګ په هم هغه زاړه رباب مصروف دی)

بابا : (آغاجان ته) زویه بیا دې ولې تندی پر ورځو پروت دی ؟

بیا کم کافر څه در ته ویلی دی ؟

آغا جان : (څه نه وائی)

بابا : ولی دې بلبل ګونګ دی ، موږ خو دې پلار نه دی وژلی چه خبرې نه راسره کوې

آغاجان : کشکی تا سی زما پلار وژلای سو ای .

نیازو ملنګ : بیا څه پېښه ده ، ته وچغېږه

آغا جان : هغه نجلۍ چه مومر که ورلېږلې وه، اوس ئې زما پلار کوی.

سوډرملنګ : خو، ښه دی زویه ! دخپل پلار نن به سې .

(ټول خاندی)

آغاجان: که ننه شپه کمه چاره و نکم سبا ما دحا کم پلاس ور کوی .

بابا:-عجبه ده ، زوړ ګنهګار په دې سپینه زیره نه شرمېږی

چه دشپاړسو کالو نجلۍ کوی
خالو (توړی دی) هغه که
شرم درلودلای خپل وروربه ئې
نه وژلای او خپل وراره اوزوی
به ئې له کوره نه ایستلای.

سوډرملنګ: هو آغا بې غیرته
زوی نو سړی څه کوی؟

آغاجان: څوك بې غیرته دی؟

سوډرملنګ: ته بې غیرته یې
که بې غیرته نه وای ته به
د کوره نه وتلای، او دانجلۍ
به پلار نه درڅخه کولای.

خالو: هو! ښه وایی، یا
به دې ځان وژلی وای او یا پلار...

آغاجان. زه تاسی بې غیرته
کړم چه ماغزه مو په چرسو
را وراسته کړه، زه موله هره
ژونده واچولم.

سوډرملنګ:- ولاړه ولاړه
تپوسه! دمخه هم څه شی نه وې
دغو چرسو ته دانسانانو په ډله
کی کښېنولی، که نه وی اوس
به دی لا چېری خرې پوولی.

نیازوملنګ: زویه! که
چرسی نه وای نو به څه وای،
خو چه ډېر پورته غور ځېدلی
وای یوملګی یا یو علاقه دارګی
به درڅخه جوړ سوی وای او
رشوتونه به دې خوړلای او یا
لکه خپل پلار غوندې د کرك
او سپی مرید به وای.

آغاجان: خو له سمه چو اوه
زه نورې داسی خبری اروبدلای نسم.

خالو (توړی): هو، جارسم
آغاجانه ښی خبری دی زده
کړی، خدای دی رالوی که

آغاجان: (پرغضب) بس، بس

سوډرملنګ: (په جدیت)
دمځکی ئی وو هه چه د خاورو
بوی ئی ولاړسی.

توپو! داتوپونه خپل پلار ته
وو له په خدای په یوه چکه دی
بلی دنیا ته واستوم.

آغاجان: چا ته وایی سوډره!
(حمله کوی، سوډرملنګ هم
ورغورځی خو بابا هغوی نه
پرېږی وای:)

بابا: څه کوی زامنو لېونی
سوی یاست، څه شوی مات؟

سوډرملنګ: زه دده توپونه
حیران یم که دی دونی مېړه
وای پلار به دده ماندینه نه کولای..
پخدای زما پلار وای که می یو
ساعت ژوندی پرېښی وای.

آغاجان:- (هغه خنجر ته
لاس اچوی چه ترملائی دی) خیر
زه اول باید دپلار کارو کم چه
له دی پېغورو څخه خلاص سم،
بیا به ستاسره گورم، هم دانند شپه
(په داسی حال کی چه خنجر
ئی پلاس کی و، په ډېر قهر
دچرسیانو له کوټی څخه وزی)
(پرده لوېږی)

څلورمه پرده

دریمه صحنه

(دآغاجان دپلار، اغا بادار
دخوب کوټه ده، پلار ئې په خوازه
خوب پر کټ بیده دی د کټ
د سرخوا ته یوه کړکۍ ده نیمه
شپه ده کړکۍ وروورو
خلاصیږی اغاجان دغله په شان
وربوز تړلی کوټی ته رالوېږی
ډیوه بلوی خنجر ئې په لاس کښې
دی، دخپل پلار پر تټر ئې په ډېری
وارخطائۍ سترګی پرانیزی)

آغاجان: ښورې به نه، که
نه وی ځای پر ځای به مړیې..

آغا بادار (په وارخطا):-
ولی زویه؟

آغاجان: په دی وخت کښې به ما ته زوی نه وائې، زه ستا هغه دښمن یم چه په تامی د مرګ برات راوړی دی . . .

آغابادار:- څه ګناه ؟

آغاجان:- څه ګناه ؟ (په تمسخر) ستا یوه ګناه نه ده .

آغابادار:- ګناوی به مې ډېرې وی، مګر ته خو زما نازولی زوی یې ؟

آغاجان:- یوه ګنا دی همداده- اوس به ئې نتیجه ووینی؟

آغابادار:- تا چرس څکولی نشه ئې . . .

آغاجان: هو! ما چرس څکولی مګر دا ګناه هم ستاده .

آغابادار: زه په دی کښې څه ګناه لرم چه ته چرسی سوې ؟

آغاجان:- که تازه له مکتبه راګرځولی نه وای او تا کوندل چرسي زما لا له کړی نه وی او تازه له کوره نه وای شړلی زه به ولې چرسی کېدم...(په حرارت) تا زما ژوند برباد کی، زه اوس ځان په ژوندیو انسانانو کښې نه بولم، خلك زما په مجلس شر مېږي، حتی چرسیان زما سره چرس نه څکوي .. دا تو له ستا ګناه ده، زه خو کو چنی وم نه پوهیدم، مګر ته پوهېدې زه دې پرسمه لار نه روز لم - ته پخپلو پیسو مغروره وې، یوازی خپل ځانته دی فکر وه، زما دراتلونکی ژوند غم دې نه کاوه، او س زه وپوهېدم چه زما دژوند د تباهۍ سبب څوك وه ؟ ته وی ته پلار نه وی زما دژوند تباه کوونکی دښمن وې، اوس مې پر خپل دښمن لاس پر شوی دی -

آغابادار:- ستونی می وچ دی لږ او به راکه .

آغاجان:- (د تمسخر د موسکی سره) واه واه، غواړې چه خپلو نوکرانو ته زغ کړې او په دی چم ځان راڅخه خلاص کړی تا چه خپل ورور د میراث د پاره واژه داو بو چښنګ ته دی پر ېښنبود؟

آغابادار:- زه ګنهګار یم- زه اقرار کوم چه زه ستا او د خپل ورور په حق کی ګنهګاریم !

آغاجان:- مګر د دې ګناه کفاره ؟

آغابادار: کفاره به ئی څه شی وی؟ زه هر څه ته حاضریم .

آغاجان:- دا ګناه یو شی کفاره لری چه هغه «مرګ» دی، مرګ ...

آغابادار:- مرګ ؟

آغاجان: هو! مرګ .

آغابادار: ته ما وژنی ؟

آغاجان: هو زه تا وژنم .

آغابادار:- په زړه کښې دې هیڅ رحم نه درګرځی ؟

آغاجان: زه تاسی نه یم روزلی چه د رحم سره اشناسم، زه ستا له مرګ څخه خوند اخلم .

آغابادار: ولی؟ زه خو دې پلار یم - ؟

آغاجان ته مې دښمن یې-

آغابادار زه هیڅ د پلار والی حق پر تا نه لرم ؟

آغاجان: لکه ما چه د زوی والی حق پر تا در لود !

آغابادار:- ما خو خپل په نژاد ستا حق ادا که .

آغابادار:- هیڅ عذر نه منل کېږی ؟

آغاجان: یه، هیڅ عذر نه منل کېږی، دغه دی ورو ستنۍ لحظه ده کلمه دی وا یه که نه وی بې کلمې تیر سوی .

آغابادار: لااله الا الله - په دی وخت کی له کړ کی څخه یو بل سړی سر راباسی یوازی ستر گی ئی معلومیږی داهم هغه پردل دی او پر آغاجان غږ کوی

پردل: خبردار، چه ومې ویشتلې پلار چه هر څومره گنهگار وی بیاهم زوی حق نه لری چه هغه مړ کی - خنجر پورته که..

(آغاجان وار خطا کیږی خپل خنجر پورته کوی، پردل په داسې حال کښې چه تفنگچه ئې په لاس کښې ده له کړ کی څخه رالویږی او د آغاجان له لاسه خنجر اخلی د آغاجان پلار پورته کیږی او کلمه وائی)

پردل: (آغابادار ته) پورته شه دخپل زوی لاسونه وتړه...

آغابادار: (په ډیرې خوښی دخپل زوی لنگوتی خلاصوی او لاسونه ئی تر شاتړی او په قهقه خاندی.)

پردل: چپ - ته د مرگه نه ئې خلاص شوی، ده ناحقه وژلې زه دی پر حق وژنم.

(د آغاجان پلار وار خطا کیږی او رنگ ئې الوزی)

آغابادار: - (په ډیر ترس او لړز) ته بیا څوک یې؟

پردل: (خپل او ربوز خلاصوی وائې) زه ستا دوی ورځې دمخه مرزا یم.

آغابادار: - وی - طالب جانه خدای دی خبر در کړی چه زه دی له مرگه خلاص کړم، سبا دی تنخا یوه په دوه (دده خواته ځی)

پردل: زه ستا هغه وراره یم چه څورلس کاله دمخه دی زما پلار مړ کی او زه دی له کوره وشړلم، او س راغلی یم خپل د پلار خون اخلم او تا د خدائی قانون سره سم د خپل پلار په کاس (قصاص) وژنم...

(آغاجان او آغابادار دواړه ده ته په حیرانتیا گوری)

پردل: (آغاجان خواته گوری وایی) او تا د پښتنوالی په قانون وژنم چه په دی ورځو کښې غواړی هغه نجلی چه زما په نامه وه ته ئې وکړی..

آغاجان: - ته حق لری دا کار وکړی خو که زه خبر وای چه ته ژوندی یی ما به هیڅ وخت دا کانه وه کړی او له دی اوس گړی نه هغه نجلی زما خورده.

پردل: - (مخ د آغاجان پلار ته راگرزوی وایی) او ته؟

آغابادار: - (په ځړېدلی سر) زه هیڅ عذر نه لرم.

پردل: - عذر که نه لرې پیسې خولرې...

آغابادار: - خوڅه فائده؟

پردل: - ولی؟ تا خو ویل په پیسو هر څه کیږی؟

آغابادار: - زه خطا وتلی وم

پردل: څونې پیسې را کوې چه زه تا پریږدم؟

آغابادار: څونې چه زه لرم او څونې چه ته غواړې...

پردل: د ځمکو او باغو کوالې (قبالې) را که.

آغابادار: (ژر ژر کلی له جیبه راباسی او هغه بکس چه ترکټ لاندی دی خلاصوی او یو بندل تاو کړی کاغذونه پردل ته ور کوی.)

پردل: د پیسو او تلاوو (طلاوو) د سندوکو (صندوقو) کلی هم را که.

آغابادار: (د خپل سر

تر بالښت لاندې کلۍ راباسی او پردل ته ئې ور کوی)

پردل : نور څه لرې ؟

آغابادار : هیڅ !!

پردل : ولیکه چه زه هیڅ نه لرم !

آغابادار : خط نه لرم :

پردل : عذر نه لرې ، پیسې نه لرې ، باغونه او ځمکی نلرې خط نه لرې - کم د ښه کار خاطره لرې چه تا پخپل ژوند کې کړې وی ؟

آغابادار : یه!

پردل : داهم نه لرې - خانی دی څه شوه ؟

آغابادار : هغه هم اوس نه لرم

پردل : اتبار خو به دې پاته وی ؟

آغابادار : زما اتبار خو یه پیسو او جایدادو ، هغه چه ولاړه اوس نو اتبار چیری دی ..

پردل : داهم نه لری - وایه نو څه لرې ؟

آغابادار : هیڅ !!

پردل : که په دغسی حال چه هیڅ نه لرې ته ژوندی پاته سې نو څنګه ژوند به کوې ؟

آغابادار : نه پوهېږم .

پردل : خلك به په څه ستر ګه درته ګوري ؟

آغابادار : په سپکه .

پردل : ته به د ځان دپاره څه وکړای سې ؟

آغابادار : نه پوهېږم .

پردل : مزدوری کولای سی ؟

آغابادار : یه .

پردل : بزګری کولای سې ؟

آغابادار : دلاسه مې پوره نه ده .

پردل : بل څه کسب او کمال لکه نجاری ، بنائی ، آهنګری ، موټروانی ، سازنده ګری یا نور دې زده دی ؟

آغابادار : نه غواړم چه نور ما سپك کړې ؟

پردل : کسب او کمال څه سپکتیا ده ؟

آغابادار : نه غواړم چه آهنګر یا سازنده سم .

پردل : مګر داهم مه هېروه چه ته هیڅ نلرې ډوډۍ به څنګه پیدا کوی ؟

آغابادار : خدای رزاق دی!

پردل : اوس دې خدای په یاد سو چه هر څه در څخه ولاړه ؟ هغه وخت چه دې ځمکې او باغونه د سود په پیسو ګروول سودونه دې خوړل ، ظلمونه دې کول ، خواران دې ځورول ، خلك دې بې ګناه وژل ، غله دی دغلا دپاره ساتل ، آکمانو ته دې رشوتونه ورکول ، له غریبانو دې رشوتونه اخیستل ورور دې د پیسو دپاره واژه وراره دی د مېراث له بیری له کوره شاړه ، زوی دې له علمه څخه منع کاوه قمارونه دې وهل او داسی په زرو ناروا کارونه دې کول هغه وخت دې ولې خدای په یاد نه وه ، او د خدای په لارې سم نه تلې ، اوس چه پوهېږې چه هر څه در څخه تللی دی او هیڅ دی له لاسه نه کېږی اوس نو خدای یاد وې ...

آغابادار : ګنهګاره یم .

پردل : نو چه هم هیڅ نلرې هم دې هیڅ ښه کار نه دی کړی ، هم ګنهګاریې ، هم اتبار نه لرې ، هم به خلك په سپکه ستر ګه درته ګوری او هم دې هیڅ کسب او کمال نه زده نو نور ژوند لا څه کوې ؟

آغابادار :- رښتیا هم چه نور می نو ژوند څه فائده نه لری

پردل :- خود مرګ خواته دې هم پګرو که ، زه دې دخپل پلار په کساس وژنم ، ترو ژلو وروسته به یوو ار بیا ستا ټول

بد او ناروا کارونه په خلکو کې یادسی، وایی به چه بو دورور کاتل، یو سود خور، یو ظالم، یو کمار باز، یو دعلم دښمن او بالاخره یو زوړ گنهکار مړشو، اودا سلامی عقیدې سره سم به هغه دنیا کې هم دخپلو تولو بدو او ناروا کارو نو سزا ومومی- نوستا ژوند او مرگ دواړه بې فایدې دی.

آغابادار:- په دې کې شك نسته، خو یوه لاره سته چه زما ژوند او مرگ دواړه ښه کولای سې چه دا لاره هم یوازی او یوازې په تاړه لری..

پردل:- که څه هم زه دخپل پلار د خون اخیستلو او ستاد مجبوریت په وخت کی ستا هیڅ دلیل دارو پدلو او منلو نه بولم خو بیا هم چه و روستی ارمان دی په زړه کې پاته نه شی ووایه هغه لاره کمه ده؟

آغابادار:- که ته ما و بخښې او ما ته دو مره مهلت را کړې چه زه دنصوحا توبه و کاږم او دخپلو تېرو بدو کارو کفاره ور کړم او څو چه ژوندی یم بیا داسی کارونه کړم چه یو بل انسان ته زیان پېش کړی او دژوند تر پایه هغه کارونه و کړم چه په دو اړو جهانو ما ته گټه ورسوی..

پردل:- (ترلږ فکر وروسته) که څه هم دپلار مرگ ډېر سخت دی، خو بیا هم که ته په رښتیا د نسوها (نصوحا) توبه و کاږې، او له تولو بدو او ناروا کارو څخه توبه گار سې زه ستا ترخون تېر ېږم او تا ته مهلت در کوم چه په خپل ژوند او مرگ دواړه پخپلو ښو اعمالو ښه کړې.

آغابادار:- زما د نسوحا توبه ده او په ټینگه ستا سره پښتو کوم چه تر دې وروسته به داسې کارونه کړم چه د یوه شریف انسان او ایماندار ه پښتون سره ښایی.

پردل:- (د کشر توب په وضعیت) زه هم تا ته د یوه وفاداره کشر غوندې داډ در کوم چه تر دې وروسته به په ډېر ویاړ ستا کشر توب منم.

(په دې وخت کښې تفنگچه غورځوی او په ډېر ادب دځمکو او باغونو قبالې او دخزانو کلۍ آغابادار ته ور کوی خو آغابادار هغه نه اخلی او د آغاجان خواته ځی دهغه لاسونه خلاصوی هغه پر تندی مچوی او بیا دواړه په غېږ کښې نیسی او وایی:

آغابادار:- نور دا جایداد او داپیسی زمانه دی ستاسی دی هر څه چه په کوی..

پردل:- کاکا جانه! که رښتیا ووایو داپیسې او دا جایداد ادنه ستاسې دی او نه زموږ، دا دهغو خلکو دی چه د هغوی په زحمت او زیار گټلی شوی دې نو ښه به داوی چه د هغوی دژوند دښه والی او بهبود دپاره ئې مصرف کړو، مثلاً نارو غوته ئې شفاخانی، اولاد ته ئې مدرسې، مسافرونه ئې مسافر خانې جوړې کړو، بزگروته ئې دکر دپاره ځمکې وویشو او بې کارونه ئې زیارو باسو چه کار پیدا سی.

آغابادار:- تاسی پوهېږی او کار، خو ما ته صرف دیو حج خرڅ را کړی چه خدای مې توبه قبوله کړی.

اوس که موخو ښه وی زه په دسهار دنمانځه دپاره او دس تازه کړم.

(صحنه ورو ورو رونا کېږی آغابادار دوره خواته ځی وزی پردل او آغاجان غاړه غړی کېږی او یو بل په غېږ کی ټینگ نیسی) (پرده لوېږی)

م ز

زړه دې...

زما زړه بې ستا دمینې دقاصد نه بل دهیچا پرمخ خپل ورته دی پرا نیستی .

زما سترګې بې ستا دښکلی مخ نه پر بل مخ نه دی خلا صې شوی .

زما غوږو بې ستا دزړه وړونکی آواز نه بل غږ نه دی اوریدلی .

زما پښې بې ستا له لوری بل لورته نه دی تللی . زما لاسونه بې ستا دتو رو او ګنو زلفونه بل څه ته نه دی اچول شوی .

زما سږی ستا له هغه ساړه او ف نه چه دسهار د رانږدی کیدو له کبله دی دخو لی څخه وایستی ډک دی .

زما په سترګو کې ستا دتندی هغه خولې ګرځی چه دوږی په دوهمه ـ ها وخت چه ما اوتا تربور توت لاندې دزړه خوا له کول اوته زما په غېږ کښې راوغورځیدی ـ ستا له تندی څخه څاڅکی څا څکی راو څڅیدی .

زما نرسپږ موبی ستا له مشکین بوی څخه بل دخوندبوی نه دی ر رسیدلی .

زه څه چه پیږنم هغه ته ـ یی اوبی له تا څخه مې دهیچا سره زړه نه دی مشتې .

ماته جهان ته اوجانان ته ئې ، ، او همداؤ چه مې در پسی ډیر وژ ړل اوډیر درپسې وګرځیدم . اوس نوستا خوښه چه زما دابې بدله اورسو امینه منې او که . .

دعصر له قاموس څخه :

غله

لغوی غل: چه بر دی مالونه ئی موجبه خوری .

شرعی غل: چه دچا دری نیمی روپۍ بازباتی یاهغو مره مال بې له محفوظ ځایه پټ کړی وی .

ددین غل: چه دپیسو دپاره حق پټوی .

رسمی غل: چه په رسمی چوکۍ، په رسمی وخت اورسمی دائره کښې رشوت اخلی .

غیررسمی غل: دچوکۍ دخاوندانو ناظران .

دادب غل: چه دبل اثر پخپل نوم نشروی .

بی ادبه غل: چه دبل په ناموس تجاوز کوی.

بی شرمة غل: چه به خوراولور پیسی اخلی .

ظالم غل: چه خلك و ژنی او مال ئی اخلی .

مظلوم غل: چه په غلا کښې شریك وی او مال تری اندیوالان ووهی.

سیاسی غل: چه « کشتن بی حرب وضرب آئین اوست »

بی حیا غل: چه په زرروپۍ پوزر روپۍ گټه غواړی .

جسور غل: چه په لاره کښې ناست وی اوشو که کوی.

بی زره غل : چه دشپې کورونه وهی .

مستبد غل: چه هم ئی مال اخلی، هم ئی نړی، هم ئی وهی، هم ئی

ژړاته نه پرېږدی .

اجتماعی غل: چه دځان دګټی دپاره جامعې ته تاوان اړوی.

دغلو جزا : لاس پرې کول .

دغلو مل: چه لاس لری او دغلو لاس نه پرې کوی .

دټولو واکداره!

ته خو هغه خلك پېژنې چه تا نه پېژنی او ستا په بندګانو خدایی کوی.

چه دټولو مقدساتو نه ئی بدراځی او یوازی دځان تقدیس غواړی .

چه خپل اطاعت پرنورو فرض بولی خودی دچاتشو خبرو ته هم غوږ نه ږدی .

چه دظلم په نیلی سپوروی او خواران ئی ترپښو لاندی کیږی.

چه حق ته غاړه نه ږدی، زور پېژنې، نه حق.

چه ځان مختار او نور مجبور غواړی .

چه ستا بندګی سادتوب او دځان غلامی دخلکو وظیفه بولی.

چه غواړی ستاد بندګانو رزق او روزی . مرګ او ژوند دده په واک وی .

چه دحریت، مساوات او عدالت سره ئی پوره دښمنی وی .

داخلك ته پېژنې او دوی تا نه پېژنی .

ژر دوې ته خپله خدایی وښیه او دادشلمې پېړی فرعونان غرق کړه

بې ځایه بوښتنې :

ولی ...؟

ملت جاهل دی!

ماوویل : ولې داقوم بېرته پاته‌دی اومخکښی نه‌ځی ؟

هغه وویل: ملت جاهل دی !

ما: ولې ملی وحدت نشته ؟

هغه: ملت جاهل دی .

ما: ولې په‌دوائرو کښی بی پیسو کارنه کېږی ؟

هغه: ملت جاهل دی

ما: ولې دصحیحو اشخاصو قدر نشته اوچالاك خلك مخکښی ځی ؟

هغه: ملت جاهل دی .

ما: ولې زمونږ نولس نه‌شل کیږی ؟

هغه: ملت جاهل دی .

ما: ولې لوڅ: لپړ، وږی، تږی یو ؟

هغه: ملت جاهل دی .

ما: ولې زمونږ سپېره ډاګونه نه‌ودانیږی ؟

هغه: ملت جاهل دی.

ما: ولې دنوی تهذیب ضعیف اخلاق خوښو و؟

هغه: ملت جاهل دی.

ما: ولې دتش پښتون په نامه اوپه ماضی افتخا راتو ویاړ و ؟

حال او استقبال څه سود انه کوو ؟

هغه: ملت جاهل دی .

ما: دنورو په جامو افتخار کوو اوخپله وړی نه شړی کوو؟

هغه: ملت جا هل دی .

رؤیا؟

نه پوهېږم چه خوب ؤ که خیال ...؟

خو دخوب په بستر کښې پروت وم او دخیالاتو په دنیا کښی مې یوه عجیبه صحنه ترستر گو تیره شوه .

جزئیات ئې را نه هېر دی او ځینی خبرې مې په حافظه کښې پاته دی .

یوه دنیا وه چه ډېرې لوړې ژوری اومهیبی درې ئې لر لې .

داړونکی ځناور یکښی ډېروو، عجبه لاداده چه ئې حیواناتو بنیادم غوندی خبری کولې .

دلته دمنطق هغه تعریف چه انسان ته ئې (حیوان ناطق) وبلی دی رایه زړه شو .

چه ښه ځیرشوم په دې ناطقو حیواناتو کښې مې بوانسان هم و نه لید .

ددې حیواناتو شکل اکثره دلیوانو په څیرؤ، ځینی ئې دسپی په څېره وو ، اودځینو سرونه دبد ځناوروو، ددوی غارونه هم هلته وو اودغویی، خره اوپسونو ښکار به ئی کاوه، پیشو، گیدړ اوځینو نورو به په خوږو خوږو خبرو اولکۍ وهلو ځانونه ترې بچول. دې ځناورانو به پخپلو منځو کښې هم سره خوړل. دسپو دښکارنه به ځینی چرگان اوچرگوړی، لېوانو په زوره اخستل، ځینو هوښیارو سپو به څه نه ویل اوځینو نورو به چه ځانونه لیونی کول سمدستی وژل کېدل .

حیران ولاړوم تر پښولاندې مې نظر شو گورم چه دبنیادمانو مړی پراته دی دسپو اولېوانو ډارډ ېرپریشان کړی وم نه پوهیدم چه دا خلك مړه دی که ژوندی؟ وروسته پوه شوم چه ویده دی ورباندې غږونه مې وکړل، چاوانه ورېدل وپوهېدم چه هغو له ډاره ستر گی پټې نېولی دې اوغوږونه ئې کاڼه کړی ووزما غږ ئې اورېدی شوای خو پوره پرې نه پوهېدل .

دهغوی له خوا یو نیم او نیمکله غږ زما غوږته رسېده چه :

« داسړی لېونی دی، کوم لیونی سپی داړلی دی »

یو داسی غږمی هم واورېد : «داته خوښه ۋائی خو مونږ...»

آخوادی خواته چه مې کتل ددوی دپاڅو لو دپاره څو تنه نور هم معلومېدل . چا ایاتونه او حدیثونه ویل، چا قصی کولې، ځینو عقلی خبرې کولې، چا به شعرونه ویل، ځینی په زوره زوره غږېدل او ځینی په نرمۍ لګیا وو .

خو دهغوی غږ هم زما غوندې چا نه اورېدو مونږ یو تر بله سره کتل کله به مو یو په بل پوری پټ پټ خندل او کله به ژړا راتله .

په دې کښې یو نورانی او منور سړی له ورایه ښکاره شو . زه ئې مخې ته وځغلېدم، نور هم ورته متوجه ؤ، سلام مې ورواچاؤ، زما سلام ئې واخیست، په ډېره مینه ئی رو غبړ راسره وکړ، تعارف پسی و نه ګرځیدم، وار خطا مې وویل: «داخلك څوك دی؟ ویده دی که مړه؟ دا لیوان، شرمښان، سپی او... څنګه غږ یږې؟ دا څه دی او څه کوی؟»

ده راته وویل: «داخلك ویده نه دی خو دځناورو له ډاره سرونه نه شی جګولی، ددی نورو ځناورو په خبرو مه تیراوزه دا ځناور نه دی دا هغه بنیادمان دی چه دوی دسړیتوب کالی له ځانه ایستلی دی، او دځناورو خوی بوی ئی اخستی دی. «..را باندی غږ شو چه جګ شه!! ستر ګی مې وغړولی سرته مې پلار ولاړؤ، ویل ئی پاڅه چه مونځ دی قضا نه شي !!

خلك اور جب خا ن :

خلك څه وايي ؟

خلك و ا يي : په ډېر ولېونی خوش دی .

رجب خان وايي: که داسی وی نو ټول خلك ليو نيا ن دی .

خلك وا يي : حق خپل ځای نيسی .

رجب خان وايي: ما ډېر ليدلی چه خلكو په ناحقه د نو ر و حق او ځای نيولی دی .

خلك وا يي : نيكی په سيند كښی هم نه ضايع كيږی .

رجب خان وايي: ما ډېر ليدلی چه په وچه كښی هم ضايع شوې ده.

خلك وا يي : ژرنده كه دې ديلار ده هم په وار ده .

رجب خ ن وايي: په دوائرو كښی دمعتبرو كارو نه بی وار ه كيږی.

خلك و ا يي : چه نه كار هلته څه كا ر ؟

رجب خان وايي: ډېرو خلكو نه خپل كار پاته وی او د نو ر و په كارو كښې مدا خله كوی .

خلك و ا يي: بو هنه رنا ده .

رجب خان وايي: ما ډېر پوهان وليدل چه په تياره كښی نا ست دی او دبوسو په رنا كښی ډوډی خوری .

خلك و ا يي : څه چه كړی هغه به ر يبې .

رجب خان وایی: ډېر خلك څه نه کړی او د نورو فصلو نه ځانته ریبی

خلك وایی: په حرکت کښې برکت دی.

رجب خان وایی: زه خو ډېر حرکت کوم خو هیڅ برکت می نشته.

نور نه ژاړم!!

آه! زړه مې پرسېدلی دی، سامې بنده ده.

رقیبانو وهلی یم، ډارولی یم، تالا کړی یم.

نورهم راته سترګې برندوی او منزل مقصود خو اته می نه پرېږدی.

دردمې ډېر دی، ژړامې په زوره ده، زه په زوره زوره ژاړم، په زوره زوره ژړل زما عادت ګرځیدلی دی، په ژړا پوخ شوی یم..

زه چه ژاړم ماته درد رسېدلی دی.

تا باندی زما ژړا بده لګیږی او راته وایی: «مه ژاړه!»

ګرم نه ئې، ستاغوږ و نه له ښو نغمو، سازو باز او پستو خبرو سره اشنا دی. زما ژړا د خپل عیش دورانیدو سبب بولی نو ځکه زما په زخم باندې ملهم نه ږدی مالګی پرې دوړوې او بیا وایی: «مه ژاړه!»

غم دی نه دی لیدلی نو ځکه د غمجنو له حاله خبر نه ئې ژړول شوی نه ئې چه په توئیدونکو او ښکو خواشینی شی، دمینې تاو درته نه دی معلوم چه دمینو د آه له حرارته خبرو اوسی، بیغمۍ بی احساسه

کړی ئې نو ځکه راته وایی: «مه ژاړه!» ستاله لاسه چاته فریادی شم چاته وژاړم، گناه مې خپله ده چه تاغوندې بې درده او بې پروا ته مې زړه ور کړی دی، دزړه دردزما برخه ده او دهغه ټول واك تاسره، ته پوهېږی او ستا کار، زه او زما درد، زه به «نور نه ژاړم!!»

سبادی!

سپېدې وچاودې، بلبلان چغېږی، کاروان روان دی جړنگی ئې خېژی، شپه تېره ده، تیاره نشته، خلك پاڅېدلی دی، سبادی.

نو زما لالیه! ته هم پا څه!

نور نو دخوب وخت نه دی

* * *

ولې نه جگېږی؟ دا خوب دی که مرگ؟ دا نیشه ده که مستی؟ دا بی سدی ده که لېونتوب؟ دا مرض دی که غفلت؟ که د غفلت مرض؟ هرڅه چه دی پا څه!

نور نو دخوب وخت نه دی

* * *

ولې نه خوځیږی؟ قافلې لاړی، ځینې سرمنزل ته رسیدلی او ځینی ورنژدې دی، قومونه سره واؤ ښتل، قیامتونه تېر شول، دذری زړه وسپړل شو، طلسمونه مات شول، په عالم باندې سبادی، په دنیا کښی

رڼا ده، یوپه‌تانوره شپه‌ده آیاستاسحر ولې نه ما تیبزی ؟
زه خووایم چه‌ماتیبزی خو که وخوڅیبزی. او یوه شی چه :
نور نودخوب وخت نه دی

* * *

ولې نه‌پور ته کیبزی؟ ترل شوی خو نه ئی ؟
اوه ! ستاستر گی چاپه وریښمینو دسمالونو تر لی .
دریانقاب وغور ځوه، داوهامو پردی ځیر ې کړه !
ستر گې و غړوه !
نورنو دخوب وخت نه دی

* * *

وینې ؟ حرام خواره ستایه‌مال باندې چرچې کوی اوستا یه
سر کشمیر گټی، ستاله غوښونه کباب اوله‌وینونه دې شراب
جوړ وی .
هغه پولادی‌سیخ وینی چه‌ستایه‌شریان ښخ دی ؟
هغه ستاوینه راکاږی. نه‌چا بې حسه کړی ئی ؟
هله، پاڅه! زر کوه!! سبادی ! !
نورنو دخوب وخت نه دی

خاطره :

ای بېوزلی مرغۍ...!

ته خو پرون خوشحاله وې. په خوشحالۍ الوتلې، ټوپونه به دې وهل. کله به د ګلانو په څانګو او کله به د ګورو ونو په ګڼوښ، خونو کښې ګرځیدلې، داسی ژر ژر او چالاکه چالاکه ښکته پورته کیدلې چه خلکو به ویل څه درنه ورکه ده.

یه یه! هیڅ درنه ورکه نه وه، ته د سعادت لوړ مقام (خوشحالۍ) ته رسیدلې وې. تا د چا په ارمان هلې ځلې نه کولې، خوښۍ کښې ډوبه وې. د خوشحالۍ نڅادی کوله او د آزادۍ ترانې دې ویلې!

نن ولې په خاورو پرته ئې؟ خپه ئې که ویده؟ د چا نه خواشینی ئې که ستړی؟ ما ګمان نه کاؤ چه ته به خپه، خواشینی، ویده او ستړې شی ځکه چه تا خپګان نه پیژندو، د خوب وخت نه دی، په خوښۍ کښې ستومانی نه وی.

نو ته ولې ... ؟ خپلو ملګرو سره نه الوزې، غلې او غم ځپلې پرته ئې؟

اوه! پوه شوم ناروغه به ئې ناروغه!

ګرمۍ او یا یخنۍ به وهلې ئې!!

زه به دی له حاله ځان خبر کړم او له خاورو نه به دې پورته کړم...

اوه! داڅه حال دې؟ دا بیوزلی مرغۍ خوچاویشتلې ده سینه ئی پرهار ده، زړه ئې بوټ وتلی دی، وینې تری څاڅی!

آه! داد کوم ظالم صیاد د توپک ډزیا دغولکې تګ د دی معصومی په سینه لګیدلی دی؟ او دا ښکلی مرغۍ ئی په خاورو کښی غورځولی ده

داهغه مرغۍ ده چه د ګلو په ښاخ کښی ئی یوه ثانیه طاقت نه کیدم تا به ویل چه تر پښولاندی ئې میږی دی.

اوس په خاورو رغړی او د تټر په تپ کښی ئې د میږیانو میله ده.

دا مرغۍ د دنیا له تولو علایقونه آزاده وه نو ځکه د دفاع ملګری ئې هم نه ؤ او اوس څوك نلری چه پری وژاړی.

د بیوزلو، بیدفاعو، بی ضررو او بې ګناهو ځورول بوالهوسانو ته لوبی ښکاری.

یوازی شاعر په دغسی فجیعو صحنو متأثر کیږی او او ښکی تویوی. ګوندی د کوم صاحبدل زړه په درد راشی او ورسره وژاړی.

د ګاډی آس

ستر ګې ئې تړلی دی، غاړه او اوږی ئې هم په تسمو او زنځیرونو تړل شوی دی، په خوله کښې ئې قیزه ده.

داشتراك څرنګوالی:

دا مجله په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ د هیوادیه نورو برخو کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په ١٢ کلدارو او په نورو د بالد نیو هیوادو نو کښې په (٣) دالرو لاس ته راوستلای شیء. دپښوونځیو زده کونکو ته نیمه بیه ده.

د اشتراك بیسې په کابل کښې د پښتو ټولنې د محاسبې مدیریت ته او په ولایاتو کښې دهمدې مؤسسې د جاری شمېر په (٧١٨٧) لمبر افغانستان بانك ته ـ پارل کېږی.

****

د پښتو ټولنې د تیرګال خپرونې

١ : پښتنې دودونه.

٢ : غوره نثرونه.

٣ : هغه وو بسل.

دولتی مطبعه